د بدلون کرښه

په کندهار کې ۸۸ ورځې (88Days To Kandahar) کتاب په ۲۰۰۱ م کال په اسلام اباد کې د پاکستان او افغانستان لپاره د سي آی اې مسوول او پر افغانستان د امریکا د برید پلانوونکي رابرټ ایل ګرینیر لیکلی او بسم الله پښتونمل ژباړلی دی.

لیکوال : رابرټ ایل ګرینیر

ژباړونکی: بسم الله پښتون مل

Ketabton.com

لومړی څپرکی

پلان

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰۰۱/د سمپتمبر ۲۳

په داسيحال کې چې نه ويده وم نه پوره ويښ له سر سره نژدې مې ځورونکی ږغ واورید څو شیبې وروسته په ځان پوه شوم د خوب په کوټه کې د تړلو اوسپنیزودروازو تر شا خوندي وم ږغ د شپې د مهال له خوندي ټلیفون څخه راته ساعت ته مې وکتل پوه شوم چې څلور ساعته مخکې ويده شوی وم.

لهځان سره مي وويل: د خدای لپاره دوي پېي وخت کې څهغواړي؟
غوږی مې اوچته کړه او په خپ ږغ می وويل : هلو!

راويښ مې کړې زويه؟ دا په ښکاره ډول د جورج ټینټ ږغ و

زه د مشر له لوري له پاڅولو سره عادي وم خو زما ذهن د زويه لفظ ونيوی، جورج تر ما دومره مشر نه و

نه مشره ! زه همداسي غځيدلی وم اوس پورته کيدم.

هغه وويل: غوږ ونيسه کله چې زموږ خوندي ټليفوني خبرې پای ته ورسيږي، سبا سهار موږ په کمپ ډيويډ کې غونډه لرو تر څو د افغانستان د جګړې پر تګلاره بحث وکړو. څنګه يې پيل کړو؟ کوم اهداف په نښه کړو؟ څنګه خپل اقدامات جاري وساتو؟ دفاعيمسوولين وايي هلته هيڅ نظامي اهداف نشته موږ د جګړې لپاره په خپله لومړنۍ هوايي سروې کې وليدل چې د القاعدې عرب جنګيالي چې موږ يې اوس ( افغانعرب) بېرته له خپلو کمپونو وزي، ايا موږ خالي کمپونه بمبار کړو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغو پوښتنو زه له تيرو دولسو ورځو راهيسيچې په نيويارک او واشنگټن
کې بريدونه شوي و ځورولم، پداسي حال کې چې په افغانستان کې
حالات ورځ تر بلې پيچلي کيدل په اسلام اباد کې د سي ای اې د څانگې د
رييس په حيث زما دا مسووليت و چې د پاکستان او د طالبانو تر واک
لاندي د ۹۰ سلنه افغانستان په اړه استخباراتي معلومات راغونډ او چاري
منظمي کړم، له دوو کلونو راهيسيزه د هغو نارينه او ښځو مسوول وم
چې په سيمه کې په سوړو او غارونو ننوتل او له هغو څخه يې اسرارړرا
ايستل.

ما هره شيبه د ستونزو پيژندلو ته وقف کړې وه له هند سره د کشمير پر
موضوع د پاکستان مخالفت، د پاکستان له لوري له ترهگروسره مرسته،
د پاکستان له لوري د اټومي وسلې او ليري واټن ويشتونکو توغندو د
جوړولو پلانونه، د پوځي واکمن جنرال مشرف کړنې او پلانونه، تر ټولو
مهم د اسامه بن لادن تروريستي کړنې او له مذهبي طالبانو سره چې
اوس يې ۹۰ سلنه افغانستان تر واک لاندي و د هغه اړيکي او خوندي پناه
ځايونه. خو اوس د سپتمبر د يوولسمې تر پيښو وروسته زه پوهيدم چې له
دې وروسته بايد يواځي د ستونزو په اړه راپور ورنکړم بلکه په سيمه کې د
سي ای اې د مشر په توگه بايد ستونزي حل کړم.

د سپتمبر له يوولسمې تر څو ورځو پوري د ويرجينيا ايالت په لانگلي سيمه
کې د سي ای اې مرکزي دفترڅاموش و د پټو معلومات د رسولو عادي
بهير ورو او بې سيکه شوی و او داسيښکاريده چې امريکايي ديب(سي
ای اې) خپل توازون له لاسه ورکړی. خو د جورج له ټليفونه وروسته په څو
ورځو کې دبب بيرته خپل عادي ژوند ته را وگرځيد، او لانگلي زه په
غوښتنو او پوښتنو په تکليف کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ پر افغانستان د امریکا د برید له ویرونکي وېراندوینې سره مخ و زما دا ګمان و چې ګڼ امریکایي عسکر به په یوه پراخه او سخته سیمه کې پخپل ټول توان او غرور سره د یو لنډمهاله دښمن پر وړاندي عملیات کوي پداسي حال کې چې د دښمن خاص تعریف او اوږدمهالی پلان نشته او دا بالکل د افغان – شوروي د غمیزي حکم درلود.

څو ورځي وړاندي د سپتمبر پر ۱۹ مه، زما یو مامور لومړني داسي معلومات تر لاسه کړل چې پکې پر امریکا د سپتمبر د ۱۱مې د بریدونو مسوولیت د القاعدې ډلې منلي و زموږ غوره جاسوس چې په خورا احتیاط سره د افغان عربو لیکو ته ننوتلی و او په لسګونو ځله یې کره معلومات راکړي و دا ځل په یوه سل کسیزه غونډه کې ګډون کړی و چې د اسامه بن لادن له لوري د افغانستان په ختیځ کې جلال اباد ته نژدې رابلل شوي وه، پدغه خصوصي ناسته کې اسامه د برید ټول مسوولیت منلی و چې دده  د مخکیني عمومي ویناسره  چې په برید کې لاس لرل یې رد کړي و بالکل متضاد و. هغه خوشاله و چې امریکا به ژر پر افغانستان برید وکړي او دا برید به تر مخامخ جګړو ورسیږي او بالاخره د امریکایانو په ماته به پای ته رسیږي. ما دا هیله درلوده چې په یو ډول د اسامه له شره ځان خلاص کړو خو ویریدم چې که لږه بې احتیاطي وشي نو د ده وړاندوینه به رښتیا شي.

کله چې ماته د سي ای اې مشر جورج ټینټ خبري کولې زما په ذهن کې د ولسمشر جورج ډبلیو بوش درې ورځې مخکې وینا  راګرځیده‌چې د کانګریس په وړاندي یې وکړه پدغه ناسته کې د برتانیې لومړي وزیر ټوني بلیر هم برخه درلوده هلته ولسمشر پخپله  وینا کې جګړه په نظریاتي لحاظ واضح کړه، خبرې یې طالبانو ته له غوښتنو او اخطارونو ډکې وې، اسامه بن لادن راوسپارئ، د ترهګرو روزنیز مرکزونه وتړئ او هغوي نړیوالو پلټونکو ته وسپارئ، له اسامه سره تړلي ټول جنګیالي وړ بهرني دولت ته وسپارئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بوش زياته کړه: که طالبان دغه کارونه ونکړي نو دا د دوي ملامتي ده چې خپل برخليک له تروريستانو سره تړي .

په هر حال پدغه سخت پيغام کې د هيلو يو ځرک هم ښکاريده، ولسمشر کرښه ايستلى وه او ويل يې چې د سپتمبر د ١١مې تر بريدونو وروسته د لوبې اصول بدل شوي او هر هغه دولت چې له تروريزم څخه ملاتړ کوي حساب به ورسره وشي او په ضمني توګه هغو دولتونو چې لا يې هم د تروريستانو ملاتړ کوى دا موقع وه چې تروريزم او تروريستان وغندي او ويې شړي.

ما د دغه پيغام په مثبت اړخ فکر وکړ او ومي ويل چې بايد دغه پيغام تر طالبانو او ټولو هغو افغانانو ورسول شي چې له وړاندي يې لا له طالبانو زړه تور شوى و تر څو هغوي اړ شي چې د نړيوالي ټولنې سره يو ځاى شي. د سپتمبر ١١ مې تر بريدونو وروسته عمومي همږغي رامنځ ته شوې وه او داسي پاليسىٔ جوړيدلې چې له مخې يې بايد له القاعده عدالت ته کش شوې واى يا هم د زور له لوري هغوي ته سزا ورکړل شوى واى او خوندي ځايونه يې له منځه تللي واى.

جورج ته مې وويل : زما په نظر د ولسمشر په خبرو کې زموږ لپاره پاليسي ټاکل شوې ده هغه په يو ډول طالبانو ته بلنه ورکړې وه چې د تروريزم پر وړاندي له نړيوالي ټولني سره يو ځاى شي. موږ بايد پر نظامي حل لاري لومړى فکر ونکړو بلکه له سياسي لاري په افغانستان کې پر خپلو اهدافوتمرکز وکړو موږ د تل لپاره هغه هيواد نشو اداره کولي، هر څه چې کو بايد د افغانستان لپاره اوږدومهالى سياسي پلانونه ولرو او عربان له دغه هيواده وباسو او هر نظامي اقدام بايد زموږ د دغه سياسي هدف په ملاتړ وي. له ملاعمره يې بايد را پيل کړو زموږ غوښتنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده ته متوجه دي، که يې ونه مني په پالیسي کې تغير رانه ولي او اسامه راونه سپاري نو بيا به يې وژنو او دا به نورو طالب مشرانو ته چې اسامه او عرب يې دومره ندي خوښ يو ښکاره پیغام وي. بيا به هغوي ته التماتوم غځوو او ژمنې به ورسره کوو خو که يې ونه مني نو بيا زموږ حق دي چې ورباندي بريد وکړو.

پدې وخت کې جورج پوښتنه وکړه، خو ما ورته وويل ښاغلیه داسي نه کيږي زه دا ټول په ليکلي ډول درته وړاندي کوم

هغه وويل: دا ښه خبره ده اوس دلې دماخستن ۱۱:۳۰ دي نه سهار شپږ بجې کمپ ډيويډ ته ځم اوس بايد لړ استراحت وکړم ته د سهار تر پنځو بجو پوري يو څه کولی شې؟ ما ورته وويل هو!. خپل ميز ته کښينستم او فقط هغه څه مې بايد ليکل چې په مغز کې راسره و دا د ټولو اصولو خلاف و د سي ای اې ټولو کار کوونکو ته ويل شوي و چې موږ پاليسي جوړونکي نه يو، د سي ای اې وظيفه داده چې پاليسي جوړونکي خبر کړي نه دا چې هغه جوړه کړي.

ما پوره درې ساعته د پټو خدمتونو د روزنيز مرکز (The Farm)د مسوول حيثيت غوره کړ پدغه مرکز کې ما تر اوسنۍ دندي وړاندي د سي ای اې راتلونکی نسل (ځوان جاسوسان) روزل او هغه ځای د دا ډول ليکنو لپاره خورا مناسب و خو دلته په ليکنه او نظر ورکولو سره ما له اصولو سرغړونه وکړه. زما د ليکنې لپاره هيڅ چوکاټ نه و خو ما ورته د Aardwolf نوم ورکړ، دا شفري نوم موږ هغو راپورونو ته ورکو چې د يوې ځانګې مشر يکې د خپلې اړونده ساحې لپاره اټکل کړی وي دا د حالاتو د ارزونې راپورونه غير معمول دي او يواځي په سختو شرايطو کې يې غوښتنه کيږي او په لوړه سطحه ورته ډيره زياته پاملرنه هم کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه پوهيدم چې په مرکزي دفتر کې هغه مسوولين چې ورتلونکي استخباراتي معلومات لولي تر څو سره تړلي موضوعات جلا کړي به ددغه راپور په تر لاسه کولو په تيره چې پاليسي پکې جوړه شوي خوښ نکړي. دغه ډله کې اکثره يې ښځي دي چې ځيني په ټوکو د خورلنو ډله هم بولي خو ماته دغه ښځي تر ټولو سپيڅلې وې دوي د اور د لمبو (جاسوسي معلوماتو) ساتونکې وې.

دوي د راپورونو په اړه فيصله نه کوله بلکه يواځي ليدل يېچې د يو څانګې مسوول د ارزونې راپور ليږلی او وروسته به جورج ټينټ ته دغه راپور رسيده څو هغه ورځخه د خپلو اصولو مطابق د کابينې په غونډه کې کار واخلي.

په درې ساعته کې مې اته پاڼې وليکلې کله چې زما کار پای ته ورسيد ټول همکاران مې په دفترکې حاضر شوي و ټولو ته مې ليکل شوی متن وښود د دوي د نظرونو په اساس مو ځيني تغيرات پکې راوستل او بيا مې مستقيماً د عمومي رييس دفترته وليږه او ورسره مې سپارښتنه وکړه چې د هغه له راپاڅيدو سره سم يې ورته وسپاري.

څو ورځي وروسته زه د دغه راپور په اړه خبر شوم، جورج سهار پنځه بجې لوستی و او کاپي يې د جګړې اړونده وزيرانو ته ورکړې وه هغوي د ولسمشر په نه موجوديت کې ورباندي بحث کړی و او بيا يې راتلونکي ورځ له ولسمشر سره مهم ټکي شريک کړي و او تر نتيجه اخيستلو وروسته دغه اته پاڼې د ولسمشر له لوري د جنګ لپاره د فکري قالب په توګه منظوري شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جورج ټینټ ته لاربښوونه شوې وه چې زما او د مرکزي قوماندانۍ د قوماندان ټامي فرانک تر منځ اړیکي جوړي کړي تر څو د هغه د جنګي پلان د سموالی په اړه اطمیناني شو فرانک لوړ پوړی نظامي قوماندان و چې اوس د افغانستان جګړې مسوولیت ورسپارل شوي و.

د اونۍ په اخره کې جنرال فرانک په اسلام اباد کې ماته وویل : ستا د راپور لنډیز د برتانیې له کابیني سره شریک شو، ته د سپینو زرو قلم لرې.

زه خپل دغه تلګراف ته چې په درې ساعته کې مي لیکلی و د خپل ۲۷ کلن کاري ژوند د تر ټولو غوره کار په سترګه ګورم ځکه د سي ای اې یو کارکوونکي ته یې د لیکنې ویل شوي و او دا هم حقیقت دي چې هغه لیکنه د جګړې پالیسي شوه دا هر څه فوق العاده دي. له نیمګړتیاو سره په دغه راپور کې واضح شوې وه چې امریکا اوس په افغانستان کې له کومو ستونزو سره مخ ده او کومي حل لاري یې شته، خو د جګړې له پیل لس کاله وروسته ځیني هغه حل لاري یې تعقیبیږي او ځیني نه. ځیني یې موثري دي او ځیني نه. هغه مهال لا چې د مختلفو نظریو د توافق امکان و پدغه راپور کې هغه فرضیې راغلي وي چې باید په افغانستان کې د جنګ د پیل پر مهال د اصولو په توګه ومنل شي که څه هم دغه راپور به ټکي په ټکي د عملي کیدو وړ نه و خو پکې د افغانستان د لیري راتلونکي په اړه وړاندوینې موجودي وي چې کلونه وروسته امریکا پرې وپوهیده .

اوس د سپتمبر له پېښي دیارلس کاله تیریږي د هغه جنګ تصویر زموږ په ذهنونو کې کم رنګه شوی چې د لږ شمیر سي ای اې مامورینو، ځانګړو ځواکونو او طالب دښمنه افغانانو له لوري ګټل شوی و او زه یې د افغان – امریکا لومړی جنګ بولم، زموږ بریالیتوب له مهاله و له لږ مودې تقریباً دري کلنې ارامۍ وروسته امریکا یو ځل بیا له طالبانو سره په جګړه کې اخته شوې چې زه یې د افغان – امریکا دوهمه جګړه بولم. له دې وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لومړي جنګ پر مهال ټاکل شوي نسبتاً معتدل معيارونه په لوړو او حريصانه غوښتنو بدل شول چې امريکايانو نشوی تر لاسه کولی او افغانانو دوام نشوی ورکولی.

زما د راپور ګڼ هغه اصول او تګلاري چې په لومړي جنګ کې وربانديعمل کيدی د دوهم‌جنګ د پيل پر مهال له پامه وغورځول شول په لومړيو کې دا هڅه شوي وه چې د طالبانو مخالفې شمالي ټلوالي سره مرسته وشي هغوي له څو کلونو له طالبانو سره په کورنۍ جګړه کې ښکيل و خو موږ بايد افغانانو او په خاص ډول د افغانستان اکثريت اوسيدونکو (پښتنو) ته ښودلې وای چې امريکا په کورنۍ جګړه کې د کوم لوري خوا نه نيسي که موږ د ټلوالي ملاتړ کوو نو طبعاً به پښتانه زموږ پر ضد سره يو شي، ددې پر ځای بايد پخپله له پښتنو مخالفينو څخه کار واخيستل شي او زما په نظر پيل يې بايد پخپله له طالبانو وشي، ما د چارو د تنظيم لپاره ځيني اصول بيان کړي و مثلا امريکا بايد په افغانستان کې ډير لږ نظامي حضور ولري، له افغانستانه د بهرنيو تروريستانو ايستل بايد د افغاني سياست مطابق وي نه دا چې افغان سياست ته بدلون ورکړل شي.

د افغان – امريکا دوهمه جګړه مخ پر خلاصيدو ده خو پدې جګړه کې معلوم بری نه ښکاري هغه تخيلي اهداف‌چې پدغه جګړه کې ټاکل شوي و ليري ښکاري ددې برعکس مصارف ډير زيات دي او د اوباما ادارې پريکړه کړې چې خپل ځواکونه په بنيادي توګه له افغانستانه وباسي، خو دا پلان به هغه وخت بريالی او خلکو ته منلی وايي چې په جنوبي اسيا کې د امريکا اوږدمهالې بوختيا ورسره مله واي خو اوس له ۲۰۱۴ وروسته د افغانستان په اړه د امريکا پلان د امريکا لپاره هسي د اوږو پزه ده افغانستان بيا هيريږي.

که په جنوبي اسيا کې د امريکا ستونزي يواځي تر افغانستان محدودې واى نو حالات به دومره ويرونکي نه و خو پر افغانستان د امريکا بريد او له هغه وروسته جګړې په ګاونډي پاکستان کې داسي ځواکونه رامنځ ته کړل چې تر پخوا زيات سخت دريزه دي او د دغه ۱۸۰ ميلوني اټومي هيواد سياسي او ټولنيز حالت يې له ګواښ سره مخ کړي دي په افغانستان کې د امريکا کړنو زموږ ګټې په پاکستان کې له خطر سره مخ کړي دي هغه کړنې چې د امريکا له لوري شوي د ګټې پر ځاى يې زيان اړولى او په سيمه کې زموږ فعاليتونه د پخوا په نسبت ډير کم شوي دي.

هغه ننګوني چې نن موږ ورسره مخ يو له هغو سره يو شان دي چې موږ د سپتمبر د ۱۱مې تر بريدونو سمدستي وروسته ورسره مخ و افغانستان بيا د کورنۍ جګړې پر لور ځي او په دواړو افغانستان او پاکستان کې مذهبي سخت دريځي تر هغه مهال زيات شوي چې پر موږ باندي بريد کيده، ددې هر څه برسيره امريکا غواړي له جنوبي اسيا خپل لاس ور ټول کړي خو دا څه اسانه کار نه دي او موږ شايد په هغو حالاتو کې ژوند ونه شو کړى چې د دغې سيمي له هيريدو سره به رامنځ ته کيږي.

هغه کسان چې له دې وروسته په جنوبي اسيا کې د امريکا د پاليسي تطبيقوونکي يا جوړونکي وي د هغوي لپاره به اوسنۍ جګړې يو ژوندى تاريخ وي هغوي به پوهيږي چې له کومو لارو برياو ته رسيږو او دا به ورسره مرسته وکړي تر څو که په راتلونکي کې يو ځل بيا د ورته کار اړتيا پيښيږي چې ښه پاليسه ورته جوړه کړي زما هيله ده چې د دغه کتاب ليکنه او نوري ليکنې به د امريکا سياستوالو ته دا وښيي چې هغه کوم عوامل و چې په لومړۍ جګړه کې بريا د امريکا په نصيب شوه او څنګه دوهمه جګړه ناکامه شوه چې د لومړۍ جګړې له اصولو څخه پکې سرغړونه وشوه او که امريکا دريمه جګړه پيلوي نو له اوسنيو درسونو به عبرت واخلي مثبت ټکي به يې تعقيب او منفي ليري کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوهم څپرکی

### له منځه وړونکی

د منځني عمر ښځه د خړ نظامي ميز پر ژۍ مخامخ نيغه راته ناسته ده ماته د استخبارو پر ځان باور، راسپ او خوش طبعۍ په اړه معلومات راکوي دا ماته بيخي نوي او له ټولو جلا معلومات دي، دا ښځه داسي يو څوک ده چې ماته قدر راکوي او ددې لپاره له چل څخه کار اخلي او زه يې په څه نا څه کارونو هم مشغول کړی يم.

پنځه په درې انچه کې کاغذي دوسيه مې په لاس کې وه او زه د ويرجينا په روسلين سيمه کې په يو بې نومه او بې لوحې دفتر پسې لالهانده ګرځيدم کله چې له واشنګټن نه راوتلی وم لا تر اوسه نه پوهيدم چې څه راته په انتظار کې دي او څه پيښيږي، زما لپاره بيلابيلې ليدنې تنظيم شوې وې او زه ددغې لړۍ يوې بلې ليدنې ته پر لاره وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا  لیدنيږزما لپاره د ماسیچیوسټ ایالت د کانګریس د غړي
حقوقي مشاور جیو ایرلي لخوا تنظیم شوي وې هغه زما د
میرمني د تره زوي و، زما اخښیانو په سیمه ییزه حوزه کې دندي
درلودي خسر مي په تیرو ټاکنو کې کار کړی و ځکه نو زما د خسر
کورنۍ د ماسیچیوسټ ایالت د سیاستوالو له لوري پیژندل کیده
او د ددې لپاره چې ددغې کورنۍ زړه یې ساتلی وي نو د
 کانګریسهدغه وکیل د دوي له څنیور ۲۳ کلن زوم سره مرسته
کوله

هغه ۲۳ کلن ځنیور زه وم چې اوس د سي ای اې له لوري جذب
شوم داسي راته ښکاریده چې د نړۍ ټول خلګ زما د لیدو لپاره
وخت لري.

پر میز ناستي میرمني راڅخه زما د تیر وخت په اړه  پوښتنې
کولي، زه د خپلې کاتولیکي کورنۍ د اوو ماشومانو تر ټولو مشر
او تر ټولو تابع اولاد وم د ماسیچوسټ ایالت په یوه ارامه سیمه او
ارامه کور کې را لوی شوی یم ماشومتوب مې ساده او خوشاله
و هغه راهبان چې ماته یې د کلیسا په ښوونځي کې درس وایه په
خپل پاکوالي مغروره و خو ماته یې ډیر څه راوښودل په اوړي کې
به مې بیس بال لوبه کوله له ملګرو سره مې منډې وهلي او په
حوض کې مې ورسره یو ځای لامبل او کله نا کله به مې د
امریکایي ځیړونکو او نظامي اتلانو ژوند مطالعه کاوه ځکه نو زما
روزنې په شعوري ډول د وطنپالې او مذهبي اړخ وموند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امریکایي ګرځندهژوند مطابق زه د خپلې کورنۍ له لوري له سیمي پنځلس مایله لیري د ویلسټن اکاډمي ته د منځنیوزده کړو لپاره ولیږل شوم پدغه له خښتو جوړ ښوونځي کې یې اوس هم ښوونکو ته ماسټر ویل هلکانو جاکټونه اغوستل او د ماښام ډوډۍ ته به په لیکه ولاړ و که څه هم په ښوونځي کې زما په څیر کولېک او ځینې بهولن هم وخو لکره یې د نوي انګلنډ اوسیدونکي و دغه چاپیریال پر ما جوړ و ټولنیز اداب او مسوولیتونه مې وپیژندل او هغه صمیمت چې ما دلته وموند زما ژوند یې پدغه ښوونځي کې راحت کړ.

ویلسټن ښوونځي په ۱۹۶۰ او ۱۹۷۰ یمو کلونو کې له سیاسي او ټولنیزو فعالیتونو خوندي نه و خو زما مذهبي توب او په زده کوونکو کې د ویټنام د جنګ پر وړاندي راپورته شوي کرکې زه له سیاسته لیري وساتلم د پوهنتونو محصلینو مظاهرې کولې خو ما پکې برخه نه اخیسته ما داسي فکر وکړ چې دوي د ویتنام د جګړې چندان په کیسه کې دي نه دي بلکه غواړي په سیاست کې ورته پاملرنه وشي او ځان په سیاست کې ښکیل کړي

زما بدني جوړښت د جان پاول جونز، سټیپن ډي کاټر او جنرال ډوګلاس مک ارتر په څیر و ځکه نو ما په یوه نظامي اکاډمۍ کې د شمولیت خوبونه لیدل د ښوونځي په اخري کال زه دوه ځله د اناپولیس ( نظامي روزنځای) لیدلو ته معرفي شوم او په اوړي کې له خپل پلار سره د دغه مرکز لیدو ته ولاړم، هلته نوي شامل شویو عسکرو تمرینونه کول هغه ځای او هلته عملي کیدونکو کارونو زما پر ذهن اثر وکړ دا مې ضروري وګڼله چې د دغه مرکز

(c) ketabton.com: The Digital Library

سخت انظباط پر ځان ومنم ځکه زه يې نور هم سمولم او پريکړه مې وکړه چې بايد د شموليت لپاره غوښتنليک ور وسپارم.

نه د هغه وخت پوځ ضد تبليغاتو او نه هم د ټولګيوالو رويې زه زړه ماتی کړم خو زما پلار دا کار وکړ، زموږ کورنۍ ډيره خپلواکه وه يواځي د ګوتو په شمير داسي وختونه راغلي چي زما پلار زما په کارونو کې مداخله کړې ده چې له هغو لږ وختونو يو هم دغه وخت و.

هغه راته وويل : په ياد ولره که په پوځ کې شامل شوي نو بيا هغه څه نشي کولي چې ته يې ښه ګڼې بلکه هغه څه بايد وکړې چې د پوځ لپاره په ګټه وي. دغې خبري زه ټکنی کړم او په ملکي برخه کې زده کړې ته مې مخه کړه. خو کله نا کله به مې په فکر کې ځان داسي يو ځوک ليده چې غواړي په دولتي خدماتو کې کار وکړي زه ددې په علت نه پوهيدم او نه دا راته معلوميده چې زما دغه ميلان به تر کومه ورسيږي او اخر به يې څه وي؟

په هغو وختو کې د زده کوونکو په منځ کې دا نظريه وه چې که په متوسطه ښوونځي کې تکړه يې او په ښو نومرو فارغ شې نو د نورو زده کړو لپاره به هم يو غوره ښوونځي ته ځې، زما د (ايوي ليګ) پر ښوونځي نظر و خو کله چې اخري مرحله راغله حالاتو تغير وکړ ما فکر وکړ چې له کوچني لومړني ښوونځي غټ لومړني ښوونځي ته ځم، د پوهنتون ټوله دوره په مخ کي وه سره له دې چې ما په لومړي کال په درسونو کې خپل زيات کوښښ کاوه خو بيا هم دغه کال زما د زده کړو په بهير کې يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خالیګاه وه ما به ډیر وخت د نیو انګلینډ په شاوخوا سیمو کې د ملګرو په لیدو تیراوه، په شراب څښلو اموخته شوم، له نجونو سره مې اړیکي جوړې کړې او زما درجه په ټولګي کې ډیره کښته شوه، زما په راغلې نتیجه مې مور او پلار سخت وارخطا و.

د دوهم کال په اوړي کې زما پلار راسره پدې اړه خبري وکړې هغه د یو بریالي سوداګر په توګه زما ستونزه داسي بیان کړه:
کله چې زه ستا د پوهنتون لپاره پیسې ورکوم نو ورته د پانګونې په توګه ګورم خو اوس دغه پانګونه سمه نه بریښي.

له دې نصیحت وروسته زما نومرې بیرته جګې شوې خو زه لا هماغسي ساده، تصوري او غیر فعال وم زه نه پوهیدم چې د ځان لپاره کوم ډول کار غوره کړم او چې د پیسو اړتیا ته به مې فکر وکړ نو یو کار کول غوښتل، پوهنتون زما لپاره د حقیقت موندلو یو بنسټ و لوي فیلسوف را نه جوړیده.

د ډراټ موت کالج د فلسفې څانګه له ځینو استثناتو پرته ښه نه وه ثابته شوې، زمونږ دڅانګې استادان راڅخه نا امیده‌شوي و له ما توقع کیده چې د خپلو نورو چالاکه او فصیح ملګرو په څیر یو ژور حقیقت موندونکی او د خلکو په اذهانو پوهیدونکی‌کس شم.

دا کالج د ښکلا، باشخصیته ملګرو، بیلابیلو کلتورونو پخاطر ما خوښ کړ خو هلته د ګوتو په شمیر ملګري او استادان و چې اصلاحي خاصیت یې درلود دوي به زما په اړه ډیري خبرې کولي زما شاوخوا کسان اکثره یې پر ځان باوري، قانع، او د پوهې په لټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې و غوښتل یې ژر فارغه شي ما غوښتل درې کلنې زده کړې سر ته ورسوم خو لوي سوال دا و چې تر فراغت وروسته به څه وکړم؟.

د لیلیې ژوند مې خوښ و ځکه هلته مې فکري ازادي درلوده،له ډیرو ذهینو خلکو سره مې لیدل، پوهه مې تر لاسه کوله او د نشو په مرسته مې ځان خوشاله ساته.

د ۱۹۷۰ لسیزې په منځ کې اقتصادي رکود پر شخصيِ‌تعلیمي مرکزونو بد اثر وکړ کارونه لږ شول ډیرو ځایونو ته د مې کار کولو لپاره پیژندپاڼه او غوښتلیکونه ولیږل خو یوازې یوه یې د مرکې بلنه راکړه. د باستن ښار څخه بهر د کانکرډ اکاډمۍ چې کومه دنده ماته وړاندې کړه له هغه څه سره چې زما په ذهن کې و بالکل متفاوته وه، کانکرډ له ډیرو کلونو راهیسي کوچنی خصوصي د نجونو ښوونځي و چې له شاوخوا سیمو ورته د بیلابیلو خلکو خپلې لورګانې رالیږلې دغه زده کوونکې اکثره یې د شتمنو کورنیو وې چې ډیر وخت به یې په فلم، تلویزیون او سینما کې تیراوه، دغه ښوونځي پدې وروستیو کې مختلط سیستم ته اوښتی او اوس د هلکانو د لیلیې لپاره د یو کس په لټه و، دنده تدریسي نه وه بلکه د یو مشر په توګه د زده کوونکو څارنه وه چې غلط کار ونکړی ما ته دهمدې دندې وړاندیز وشو.

د کالج په وروستۍ کال په زړه پوري و که څه هم د لیلیې په وظیفه کې مې معاش کم و خو د اوسیدو کوټه او خوراک پکې مفت و خپل عواید مې په یو نژدې ښوونځې کې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

تدریس او د بیس بال د یو ټیم د روزونکې د مرستیالۍ په دنده سره زیات کړل د کانکرډ په ښوونځي کې مې زیات ملګري پیدا کړل او په ساعتونو وخت به مې له دوی سره د بوستن او کمبریج په شرابخانو او رستورانتونو کې تیروی.

دا زما د هغو خوبونو د رښتیا کیدو لپاره لمړنی ګام و چې څوک راته مشر صاحب ووایي، خو یوه ستونزه بله وه او هغه دا چې زما لپاره په ځوانۍ د خپلو احساساتو کنترول سخت و، که څه هم د ځینو زده کوونکي لپاره ښوونځي په زړه پوري وي خو ما فکر کوي چې زما لپاره نور په ښوونځي کې کار سخت دي او باید بل څه ته لاس واچوم. په اوړي کې مې د یو بل ملګري سره د کورونو د رنګولو کمپنۍ جوړه کړه او ژر مو د کمبریج په سیمه کې د ځینو پخوانیو ودانیو د رنګولو قراردادونه وکړل په رنګ لړلو جامو کې به مې د چای او ډوډۍ د وقفې په وخت کې اخبارونه مطالعه کول، نړیوال مضامینیې راته په زړه پوري و د منځنځي ختیځ د موضوعاتو په اړه مي دلسچپي پیدا شوې وه د فارس خلیج په تیلو ماړه هیوادونه، د اسراییلو او عربو شخړه او له ساړه جنګ وروسته د افریقا د واکمنۍ موضوعات، د رابرټ موګابي، این سمیت او جوشا نکومو د مانورو په اړه مې د اخبارونو اونیزۍ لړۍ لوستې، ما له ډیره وخته په نړیوال سیاست کې دلچسپي درلوده خو هیڅ وخت مې پدغه برخه کې کار نه و کړی. زما ملګري راسره په تکلیف و چې زه به یې له مطالعې بیرته کار ته ولاړولم. یو څو عشقي فلمونه مي درلودل چې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم د منځني خيتز په اړه جوړ شوي هغه به مې هم کتل او پريکړه مې وکړه چې بايد په نړيوالو اړيکو کې ليسانس واخلم.

يو بل شي هم د لا نورو زده کړو لپاره زما ليوالتيا زياته کړه کله چې په ډراټ موت ښوونځي کي وم د باسټن د نرسينګ د خانګې پر يوې محصلې عاشق شوم هغه د يوې لوې ايرلنډ نژادي کورنۍ څخه وه نوم يې پاولا و او موږ غوښتل چې ژر تر ژره واده سره وکړو خو يو کال مو لا نور ځکه انتظار ايست چې هغه فارغه شي، ما نه غوښتل چې بيرته بدو لارو ته ور وګرځم د څو مياشتو لپاره مې د باسټن په بک بې سيمه کې يو کور چې سر يې په چادر پوښلی و په کرايه ونيو او څو لنډ مهالي قراردادونه مې بشپړ کړل، کله چې هوا سړه شوه او د رنګمالۍ کارونه سخت شول. نو مې دود کشفونکې الې ( smoke detectors) کور په کور خرڅولې او وروسته د ګازو په يو پمپ کې منيجر شوم. د ماسيچوسټ په ډيډام سيمه کې مې په لږ معاش د اونۍ ۶۰ ساعته کار کوی خو دغو ټولو سختو کارونو ماته د ژوند درسونه را زده کړل له سختيو سره بلد شوم، زړه سوي مې وپيژندی او داسي خلک مي وليدل چې تر اوسه يې زما په څير نړۍ نه وه ليدلې.

د ۱۹۷۷ په پسرلې کې پاولا د باسټن کالج څخه فارغه شوه او د فراغت وروسته په لومړۍ جمعه يې زموږ واده وشو، واده مو د ايرلنډۍ رواجونو مطابق و شاوخوا ۲۰۰ تنو ګډون کړی و...

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنتون به روغتون کې د نرسې په توګه وګمارل شوه دا مهال زما عمر ۲۲ او د میرمنې مې ۲۱ کاله و.

له دې وروسته زه د سي ای اې تر دروازې ورغلم له یو ساعت صمیمې مجلس وروسته پر میز مخامخ ناستې میرمنيېرانه وپوښتل: د کومې دندې لپاره غوښتنلیک راکوې؟ له لږ فکر وروسته مې ورته وویل: فکر کوم د استخباراتي معلوماتو د تحلیل او تجزیې په برخه کې لیوالتیا لرم. دا زما د سي ای اې سره د کار کولو لپاره لومړۍ خبره وه او دا هم لومړی ځل و چې یو چا ماته درواغ ویل. میرمنې راغبرګه کړه : موږ اوس تحلیل ګر ته اړتیا نلرو، خو ایا تا فکر کړی چې د امریکا دولت له بحرونو ها خوا د هیوادونو په اړه د پټو معلوماتو راټولولو ته اړتیا لري؟

ژر مې ورته وویل : نه میرمنې ما تر اوسه پدې اړه هیڅ فکر نه دی کړی.

هغې د خپل ځان په اړه معلومات راکړل، واده یې کړی و او میړه یې د بهرنیو چارو وزارت یو کارمند و چې وړاندې یې د چین په شاوخوا سیمو کې د ډیپلومات په حیث کار کړی و او وروسته د سي ای اې د عملیاتي مرکز چې اوس یې ( د پټو خدمات ملي مرکز) بولي له لوري جذب شوی و میرمن یې د خپل خاوند پر لاره تللې وه او د نورو هیوادونو له لوړ پوړو چارواکو سره د خپل میړمله اړیکو یې کار اخیست او هغه معلومات یې تر لاسه کول چې د امریکا لپاره په زړه پوري و. ددې وظیفه دا وه چې نوي جاسوسان پیداکړي د کار لپاره د هغوی انګیزه و

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارزوي او قناعت ورکړي چې له سي ای اې سره په پټه همکاري وکړي.

ماته مخامخ میرمنې زما څخه د هغې فرانسوي کورنۍ په اړه پوښتنې وکړې چې د یو تعلیمي پروګرام پر مهال مې ورسره په فرانسه کې ژوند کړی و مثلا: د کور خاوند د څه په وړاندي حساس و؟ په ژوند کي یې څه غوښتل ؟ له خپل کاره راضي و؟ له واده خوشاله و؟ ما هم د خپل فکر مطابق ځوابونه ورکول خو زه هیڅ پر خپلو معلوماتو باوري نه وم د نورو خلکو په څیر ما هم د ملګرو او اشنایانو په اړه پر بې ارزښته معلوماتو تکیه کول او هیڅکله مې په سیستماتیکه توګه دوي نه و ارزولي او ازمویلي.

کله چې مور خبرې کولې نو زه پوه شوم چې دغه میرمن ما یو داسي کار ته ور بولې چې په پیل سره یې زه باید هر څه ته له بیل لیدلوري وګورم.

هغې ماته وویل: موږ داسي کسان غواړو چې له ګڼې ګوڼې ډک هوایي ډګر او د خلکو منځکې له یوه په زړه پوري کتاب سره ناست وي خو هیڅکله هم هغه کتاب ونه لولې ځکه دده ټوله توجه باید د خلکو پر څیړنه او پیژندنه باندي وي.

هغې زیاته کړه: یو تکړهاستخباراتي مامور باید له خلکو سره ښې اړیکي ولري، په نه ستړي کیدونکي توګه پلټوونکی وي، د حالاتو درک ولري، د پیښې په عواملو پوه شي، باید ډیري زیاتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرچينې او طبعي نرمښت ولري، باید ژر، لنډه او ښه لیکنه وکړای شي، باید ځان ونه ښیي ځکه دلته په راتګ سره باید له دې اداري دباندي هیڅوک پوه نشي چې دا کس څه کوي؟.

دغې میرمنې‌ماته د عملیاتي مرکز د بیلابیلو اصولو او خصوصیاتو په اړه معلومات راکړل، د پرمختګ‌لاري چاري یې راته وښودي چې څنګه یو استخباراتي مامور د کوڅې له دندې د نظارت څوکۍ او بالاخره د اداري دننه منصب ته رسیدای شي. پدغو لارو چارو کې دسیسه کاري او تهدید څخه کار اخیستل کیده، هیڅ وخت ندی راغلی چې زه دې پر خپل ځان بې باوره شوی یم خو اوس نه پوهیدم چې ایا دغه دنده به وکړای شم؟ له ځان سره په کشمکش کي وم.

هغې وویل: ته ښه بکګراونډ (ماضي) لرې، ستا علمي او ژبنۍ وړتیاوي ستاسره مرسته کولی شي، د خپل ظاهري جوړښت په اړه خپله پریکړه کولی شې، په لیکلو کې هم ښه یې، یواځې هغه څه چې ته یې باید فیصله کړې دادی چې ایا غواړي دغه دنده مخ ته یوسې؟ زما ځواب مبهم و.

نوموړې زیاته کړه: زه به تاته یو کتاب درکړم ته یې ولوله Night watch ډیویډ اټلي پلیپس لیکلی دغه کتاب به تا په هرڅه پوه کړي که دي لیوالتیا درلوده راسره اړیکه ونیسه بیا به د مقررۍ چارې پیل کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هغه ماښام مې  خپلې میرمنې پاولا ته ټلیفون وکړ د سي ای اې سره د  لیدنې،مې ورته ووېل او زیاته مې کړه ( باور به ونکړې چې دوي څه ډول غوښتنې درلودې زما په ګمان موږ به هیڅکله داسي ونکړای شو).

هغې راته ووېل : ډېره عجبه ده. سبا مخکې تر دې چې زه خپل کور ته ورسیږم پاولا د نایټ واچ کتاب له کتابخانې موندلی و بیا مو دوې ورځې په ګډه هغه لوست، پلیپس ( د کتاب لیکوال) په زړه پوري دنده ترسره کړې وه چې پکې په لوړه کچه برياوي او بدې غمیزې شاملې وې، هغه د کیوبا د پیګ اډې په ناکامه یرغل کې برخه درلوده خو بیا یې هم  پرمختګ کړی و او بالاخره د سي ای اې د لاتینې امریکا د څانګې مسوول شوی و، دده په کتاب کې مو ولوستل چې هغه  د جاسوس په اړه د عمومي افکارو چې ساړه، حسابګر او ډبرینو زړو والا دي برخلاف هغه یو شریف او انسان ملګری و کله چې دده د ژوند کیسه  سوا شوه موږ هغه او د هغه چالاکه میرمن وپیژندل.

د دریمې ورځې په سبا مې میرمنې راته ووېل : دا هم یو کار دی.

ما هیڅ کله اورد مهالې دنده سرته نه وه رسولې خو بیا هم دومره شوی وم چې د بیلابیلو کارونو پر مهال مې فرصتونه پیژندلی و، د مقررۍ کارونه ډیر اورده شول اوه میاشتې وخت یې ونیوی، په ۳۶ پاڼو کې مې خپله اورده پیژندپاڼه ورته ولیکله، پوښتپاڼې او د لیکنې بیلګې مې ورته ولیکلې، عملي او نظریي ازموینې تیرې شوې، د عصبي ډاکتر او د نژدې ختیځ له کارپوهانو سره مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبري وشوي، د افشاګرۍ او پټو خیږنو تر ازموینو تیر شوم او له دې ټولو وروسته زه دې پایلې ته ورسیدم چې ما هغه څه موندلي چې له ډیره  وخته ورپسې ګرځیدم، په ژوند کې مې څو ځله دا تجربه کړې چې بخت او طالع مهمې دي.

زه د سی ای اې په عملیاتي مرکز کې د پټو خدماتو په څانګه کې د ټیټې رتبه افسر په توګه وګمارل شوم د ۱۹۷۹ کال د جنوري ۱۴مه، خاص هغه ورځ چې د ایران باچا محمدرضا پهلوي له خپله هیواد  وتښتیدزما د کار لومړۍ ورځ وه، له سختې یو کلنې روزنې او دفتري کارونو سره تر اشنا کیدو وروسته زه د نژدې  ختیځد فرقې غړی شوم او په لومړی ماموریت شمالی افریقا ته ولاړم. او بیا پر له پسې یوولس کاله چې ۱۹۸۰یمه لسیزه یې ټوله ونیوله زه له یوه بهرني ماموریته بل ته تلم، په نژدې  ختیځاو لویدیزه اروپا کې مي شپږ ماموریتونه سرته ورسول خو زما په ټولو ماموریتونو کې به ما د  منځنيختیځ پر موضوعاتو کار کوي،  خپلي اکثره وظیفې مې د دولتي مامور په څیره کې سرته رسولې او په کومه څیره کې چې به ما ځان ښود  ځینې وخت به یې زما پر اصلي کار بده اغیزه کوله، دوه کاله پر له پسې مې په نژدې  ختیځ، اروپا او لیري  ختیځکې سفرونه وکړل او د دغو سفرونو پر مهال مې له جعلي اسنادو او بدلې څیرې څخه کار اخیست هغه  څیرهچې دغه مهال ما د ځان لپاره غوره کړې وه زما تر څیره ډیره په زړه پوري وه خاص د تمثیل غوندي و چې کله به مې چیرته امضا کوله څو ثانیې به مي فکر کوی چې اوس زه څوک یم او د چا نوم باید ولیکم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدغو سفرونو کې زما دنده داوه چې بهرني وګړي د
جاسوسانو په توګه پیدا او استخدام کړم له دوي څخه د
جاسوسانو په توګه کار واخلم، لارښوونې ورته وکړم او
معلومات ځیني تر لاسه کړم. استخباراتي نړۍ ته د تکنالوژي په
داخلیو سره حلات لاسه کیدل خو یا هم زموږ کار دوام درلود،
سی ای اې ماته ویل چې هماغه لرغونې د خلکو جاسوسي ته
دوام ورکړم، انسانان په تیره جاسوسان پیچلي طبعیت لري یو
څوک هڅول چې د خپل هیواد یا خپلې ادارې اسرار زموږ سره
شریک کړي په یقیني ډول یو سخت او خطرناک کار و، مبهم والی
د جاسوس طبعي ملګری وی چې جاسوس پیدا شي بیا نو وخت
پر وخت د هغه د حرکاتو، انګیزي تغیر او د معلوماتو اهمیت
ارزول کیږي د ناکامۍ بیه ډیره لوړه وي جاسوس کیدای شي
پېژندل شي یا هم سنسي پر ضد ورڅخه کار واخیستل شي
کیدای شي دریمه ډله یې ځان ته جذب کړي او څو طرفه
جاسوس شي یا هم که له تروریستانو سره اړیکي ولري نا ووژني
دغو ټولو خطرونو او ګواښونو ته په کتلو سره یو مدیر باید له خپل
جاسوس سره نژدې او پر له پسې اړیکي ولري تر څو په حالت
یې پوه شي، د مدیرکاری ساحه پیچلي وي او انسان پیژندنه
سخته ده خو د تیز ذهن او پر وخت اقداماتو په کولو سره
کولی شي چې هم حالات کنترول او هم ډیر څه زده کړي.

له سي ای اې زما وظیفه د دندې په نسبت د ژوند یوې طریقې
ته ډیره ورته وه د ژوند هیڅ داسي اړخ نه و چې له ما دي پټ پاته
و له ملګرو سره له سیاحتي سفرونو، بیا د انجینر په توګه تر کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولو په هرڅه کې به ما هڅه کوله چې خپلې معلوماتي سرچینې پیاوړي کړم، په کلي کې میلې او د ساحل پر غاړه د ورځو تیرول هغه څه و چې زما د ټو کارونو اړه به یې د لینو زمینه برابروله، له ملګرو به د ماښام د ډوډۍ له منځه په یوه او بله بهانه ولاړیدم تر څو د خپل همکار معلوماتي ټلیفون ته ځواب ورکړم ژوند اسانه نه وه هر کار به مې دوه هدفه درلود.

پاولا هیڅ وخت له سي ای اې سره اړیکي نه درلودي خو هلته زما په مقررۍ کې یې رول درلود هغه او زموږ ځوانه کورنۍ زما د دوه ګوني ژوند بشپړونکي و ځیني وخت به مې لیدل چې پاولا زما په نسبت د خلکو په شخصیت پیژندنه کې چالاکه ده او زه باید ورته پاملرنه وکړم.ډیري شپې به مې میرمنې ته دا لارښوونې کولې چې که زه له کومې ناوخته لیدنې بیرته رانغلم نو باید چا ته احوال ورکړي. یو ځل یوه غمیزه هم رامنځ ته شوه زما تر لاس لاندي یو مشر جاسوس چې د یو ظالم او د تروریزم ملاتړي حکومت پر ضد یې کار کوي او د دوهم لاس جاسوسانو نظارت یې کول د خپل وړوکوالي د یو ملګري له لوري وغولول شو او ووژل شو، دغې پیښې زه وویرولم او فکر مي وکړ چې راتلونکی هدف زه یم، په لانګلي کې زما مشر راته وویل چې ژر تر ژره د تفریح په بهانه غرونو ته ووزم او وروسته په دایمي ډول هغه هیواد پریږدم موږ فقط وکولی شو چې هلته خپلو ملګرو ته لنډ د خدای په امانۍ پیغام پریږدو. کار مې په شوق روان و هر څه مې پکې رانغاړل، زما د یوې ښځینه همکاري په قول زما دنده زما معشوقه وه، رښتیا هم د وخت په تیریدو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

دندې زما کورني ژوند او نورې کورنۍ پالنې  اغیزمنې‌کړي په ځينو وختونو کې به له مور د مرستې هیله نه کیده، په هغو کلونو کې مې بې رحمه او نشه يې غوندې ژوند درلود. میرمن به هر ماښام چې زه د ساحل غاړو ته د خپل همکارانو لیدنې ته تلم سخته اندیښمنه وه ډیر وخت به مې په هوټلونو کې په میلمستیاو تیراوه، پاولا چې به هر چیرته غوښتل ځانته یې د نرسینګ دنده موندلې شوه له سفارتو رانیولې تر شخصي ښوونځیو او د تیلو تر کمپینو ، له بیلابیلو ملتونو او بیلابیلو مسلکونو مو ډیر خواږه ملګري پیدا کړل په لږ پرمختللي هیوادونو کې ژوند استعماري ښه درلود، لويي سرايونه، خدمتګاران او د ټینس د لوبې میدانونه پکې جوړ و. رخصتۍ مو د یمن د منځني پیړیو له نااشنا ښارونو بیا د روم تر کنډوالو، د افریقا له دښتو بیا د هانکانګ تر مارکیټونو او د اتن د بې ساري ساحلونو تر منځ تیریدلې.

دوهم څپرکی

له منځه وړونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهمه برخه

زما د کورنۍ په غړو او ملګرو کې یواځې مور او پلار مې پوهیدل چې زه څه کوم، خواښې او خسر مې بې له دې چې زما په دنده پوه شي قبر ته تللي و، پلار مې زما د دندې په اړه بې باوره و په لومړیو لسو کلونو کې هغه فکر کوی چې زه غیر عادي پرمختګ وکړم، مور مې نه پوهیده چې څه ووایي په یوه لیدنه کې چې مور له ټولو لیري د باغ په منځ کې یواځې خبري کولې او پوهیدو چې هلته به هیڅ جاسوسي مایکروفون نصب نه وي هغې له ما پوښتل: ایا هغه کار چې ته یې کوي ورڅخه خوښ یې ؟ ورته ومي ویل: مورجانې! زه خپلې دندي سره مینه لرم ډاروه مې مه.

د کلونو په تیریدو سره زما مسلکي پیاوړتیا او اداريېته ژمنتیا ورځ تر بلې ډیریده، په ساحه کې کار کولو ماته خپلواکي، شفافیت او ځاني بصیرت را زده کړ زه پوه شوم چې په واشنګټن کې تر اکثره بیروکرات سیاستوال زه ښه یم زما ښه والی زما په پر له پسې پرمختګ ثابت و یو ځل خو یې د دوو ځایونو مسوولیت پر یوه وخت راکړیو د خپل کار د ساحې د سي ای اې د ځانګې مسوولیت و بل په ور څیرمه هیواد کې د دغسې یو ځانګې سرپرستي وه. له سي ای اې بهر خلګ زما په پرمختګ او لاسته راوړنو نه خبریدل زما کارونه تر پرده لاندې و او دوام یې درلود خو بالاخره مې کار لوړي سطحې ته ورسید زما کورنۍ او ملګري پوه شول چې ما تر اوسه څه کول. د سي ای اې د وړاندویني مطابق بالاخره ښکاره کیدل هغه څه و چې د جاسوس په ژوندي کې حتمي دي خو د سي ای اې لارښوونو او د هغوي ښو نظرونو زه پر خپل ځان مطمین کړی وم ما په خپلو کارونو ویاړل کورنۍ او ملګرو ته مې د خپل کار په اړه معلومات ورکول خو له احتیاطه مې کار اخیست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما اکثره ملګرو به ویل چې څنګه استخباراتي معلومات چې د جاسوسانو له لوري را ټول شوي د یو چا لپاره په زړه پوري وي؟ خو ما ویل چې پدې اړه اندیښنه زموږ کار نه دی او نه ما پدې اړه فکر کړی دی. څو اونۍ مو د عملیاتو په ریاست کې د معلوماتو د ارزونې درسونه ولوستل، دغه روزنه د استخباراتو د ریاست له لوري پیل شوې وه، دواړه ریاستونه د سي ای اې څانګې دي، د استخباراتو ریاست ماته وړاندیز وکړ چې عملیاتي ریاست پریږدم او له دوي سره د څیړونکي په حیث کار پیل کړم خو ما دوي ته مثبت ځواب ورنکړ، که څه هم په بهر کې کار کول سخت و خو ما خوند ځیني اخیست.

د معلوماتو د راټولولو لپاره مې سخت کار کوی خطرونه مې پر ځان منل او په عیني حال کې دې ته هم ځیر وم چې زما معلومات د پالیسي جوړونکو په وروستیو پریکړو کې څومره رول لري، ما به د خپلو راپورونو سره ځیني وخت یادښتونه هم لیکل چې پکې به د حالاتو په اړه معلومات او د راتلونکي په اړه وړاندوینې شاملي وي کله چې به زه پوهیدم چې څیړونکو زما له معلوماتو غلط مطلب اخیستی شکایت مي ورته کوی په بیلابیلو وختونو کې لانګلي هم زما څخه غوښتي چې پر مهمو موضوعاتو خپل نظر ور شریک کړم او د راتلونکي په اړه به یې وړاندوینې غوښتې. ځیني وخت به زما مشرانو هم له ما غوښتنه کوله چې د دوي لپاره څیړنیزه لیکنه وکړم او زه په دې نه شرمیدم چې د سیمي حالات د څیړنې په توګه ولیکم.

په هیڅ برخه کې مې د (ملي استخباراتيټکلونو) په اندازه دلچسي نه درلوده پدغه څیړنو کې د امریکا د دولت له لوري تر ټولو د لوړې کچې معلومات شریکیدل، او داسي ښکاریده چې دغه څیړنې د ټولې ورځې د استخباراتو نتیجه ګیري ده چې له مخې یې قضاوت کیږي او ورسره سم تګلاره ټاکل کیږي. د ۱۹۸۰یمې لسیزي په وروستیو کې چې زه بغیر له کومي رسمي پوښښ څخه له یوې ایرانۍ سرچینې سره په تماس کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وم د (ملي استخباراتي اډکلونو) د لړۍ څخه د ایران د انقلاب د راتلونکي په اړه پر یوه څېړنیز راپور کار پیل کړ او او د راپور لیکونو زما له ځانګې څخه پدې برخه کې مرسته وغوښته، ما باید مرسته ورسره کړې وای، زما دغه پروسه په تیره د استخباراتي مامورینو رول پکې ډیر خوښ شو دوي د بیلابیلو جغرافیایي ساحو مسوولین راټول کړي و او بیا یې د ټولنې له نورو کسانو سره ګډ کړي و او د ملي استخباراتيشورا نوم یې ورکړی و چې پکې پالیسي جوړونکو او د کانګریس غړو هم برخه درلوده او هر یوه به له خپل لوري د ټولنې پر لیدلوري اثر اچوی.

د پټو مامورینو لپاره سخته وه چې د دغې شورا غړی شي خو بیا هم د ځینو سیمو په خاصه د نژدي ختیځ او جنوبي اسیا یو شمیر پټ مامورین د دغې شورا غړي و او دوي ته په کتو به زما هم د دغې شورا غړیتوب ته هیلي پیدا شوي زما په ګمان د ساحې جاسوسان د میز تر شاه څېړونکو څخه ډیر پوهیږي ځکه دوي سیمه لیدلې، د خلکو په کلتور پوهیږي او وضعیت ښه تحیلیلولی شي ما غوښتل چې زه ترټولو غوره افسر واوسم او هر هغه معلومات چې واشنګټنورته اړتیا لري پیدا او ورسره شریک کړم، او باید څېړنیز مهارت هم ولرم، کله چې زه د یو هیواد لپاره مسوول وټاکل شوم نو ما هغه حدود هیڅ وخت ندي منلي چې موږ ته په مسلکي توګه ښودل شوي و ما غوښتل چې په ټولو برخو کې نظر ورکړم او زما دغه نظرونه په واشنګټن کې پر کیدونکو څېړنو مستقم اثر ولري که څه هم له لیري فاصلې وي.

د ۱۹۹۱ په اوړي کې زه او پاولا له خپل ماشوم زوي سره واشنګټن ته ولاړو ما غوښتل چې د استخباراتو د ملي شورا غړی شم او پدې برخه کې مې د خپل مخکیني ریاست له مرستیال څخه چې څه موده وړاندي د دغې شورا غړی هم و مرسته وغوښته، هغه را ته وویل : ته یوولس کاله په بهر کې وې او اوس بالکل د دې وړ یې چې د میز تر شا کښینې. د خلیج د لومړي جنګ تر پای ته رسیدو وروسته امریکا غوښتل چې صدام کنترول

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي او که ممکن وي هغه په څو میاشتو کې له واک لیري کړي په واشنګټن کې د صدام د لیري کیدو لپاره پالیسي جوړه شوې وه اوس له سي ای اې څخه هیله کیده چې دغه پالیسي تطبیق کړی. زه د سي ای اې د یو تر ټولو پراخ ټیم د لومړي مرستیال په توګه وټاکل شوم دغه ټیم ته یې د عراق عملیاتي ډله ویل زه په لومړي ځل له یو سخت ماموریت سره مخ وم د سي ای اې مامورین په عادي ډول یوائې د پیښو په اړه معلومات راټولوي په پیښو کې د نفوذ او یا هم د پیښو لوري ته د بدلون کار د دوي نه وي که چیري سي ای اې د کوم کار اراده هم وکړي نو هغه بیا د ولسمشر له لوري تایید شي.

دفتري کارونه زما لپاره نوي و، د مسودې ترتیب، د ولسمشر لاسلیک اخیستل، د کانګریس د جرګګیو غړیو ته معلومات ورکول له پنتاګون او بهرنیو چارو وزارت څخه د ملاتړ تر لاسه کول او نور ما مخکي نه و کړي خو بیا هم ما دغه کار په ډیره لیوالتیا سره پیل کړ، زما نظر داو چې د خلیج تر جګړې وړاندي د جورج بوش اداري د عراقي شیعه ګانو او کردانو پر وړاندي د صدام حسین څخه ملاتړ یوه غلطي وه اوس ما غوښتل حالات بیرته سم لوري ته بوزم، څو ځله مې سیمي ته سفرونه وکړل هلته مې د سي ای اې د څانګې له مسوول سره مشوري وکړي او له هغو کسانو سره مې لیدنې درلودي چې موږ د صدام پر ضد انقلابیان فرض کړي و. پدغه وخت کې زه د ټو فعالیتونو په اصولو پوه شوم د نژدې ختیځ د څانګې مسوول له تیرو تجربو په دې باور و چې په دې معامله کې ښکیلتیا به د سي ای اې لپاره ګټوره نه وي خو اوس موږ بیا غوښتل په یو بهرني هیواد کې د کودتا ملاتړ وکړو په ټوله اداره کې دا ذهنیتو چې ولسمشر له سي ای اې څخه د بهرنیو ستونزو د حل لپاره غیر عادي غوښتنې کوي، د سي ای اې مشر د سپینې ماڼۍ غوښتنې نه شوې ردولي خو په عین حال کې یې پر موږ هم ډیر فشار نه راوړ او زموږ په کارونو کي یې مداخله نه کوله د هغه بې طرفيءاو یا مخالفت زموږ لپاره مانا نه درلوده موږ خپل کار کوی، زما په ګمان سي ای اې پدغه ماموریت کې یو لوری نه بلکه یوه اله وه او باید چې ولسمشر په ټینګه زموږ ملاتړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړي. زموږ مسوولیت و چې  راسپارل‌شوی کار په ښه ډول سر ته ورسو او جوړه شوې پالیسي بریالي کړو، له ۱۹۵۳ څخه چې د ایران شاه د سي ای اې په مرسته د یوې کودتا له لارې بیرته واک تر لاسه کړ نړۍ د سخت دریځي لور ته میلان کړی و ما خپل د ټیم مشر ته هغه ستونزي په یو لیک کې یادې کړې چې په  عراق‌کې د ماموریت پر مهال به زموږ د بریا مخه نیسي، ما وویل موږ نه باید مخامخ بغداد ته ور ننوزو او صدام له ځوکۍ لیرې کړو ما د پالیسي جوړونکو د مرستیالانو سره اړیکي ونیولي تر څو په نورو لارو لکه د عراق سرحدونو ته څیرمه د خوندي سیمې رامنځ ته کولو په اړه د دوي ملاتړ تر لاسه کړم دوي هر یوه به په ډیر ادب زما خبري اوریدلي خو دا اصطلاح به یې کاروله چې هغه وخت په دروازه ځان مه ژوبلوه چې بیرون ته وزې.

یواځي د دفاعي پالیسي د برخې مرستیال زما سره هم نظره و خو لا هم زه د ده پر جدیت باوري نه وم، پاول ولفوویټس مې بیا د جورج ډبلیو بوش د واکمنۍ پر مهال پوره وپیژندی.

یوکال به مې نه وتلی چې د استخباراتو په ملي شورا کې د منځني ختیځ د ځانګې لپاره د مرستیالۍ څوکۍ خالي شوه د خپل مشر په مشوره مې ورته غوښتنلیک ولیږه او پکې مقرر شوم دلته مې یو کال د استخباراتي نړۍ په بله خنډه کې تیر کړ له  استخباراتي اداروا‌و کانګریس سره مې کار وبار و هلته مې له ایلن لیپسن سره یو ښه ټیم جوړ کړ د پالیسو لپاره مو ډیر استخباراتي وړاندوینې وکړې هر سهار به مې هغه کاغذونه لوستل چې د پالیسي جوړونکو له لوري به رالیږل شوي و او ما به هڅه کوله چې د دوي د پالیسو د تطبیق هر اړخیزه څیړنه وکړم.

دلته مې هم فقط کال پوره کړ چې د عملیاتي بخش مسوول ټام ټوینټر راڅخه غوښتنه وکړه چې د بهرنیو چارو په وزارت کې د پیټر ټرنپ د دفتر

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مشر په توګه دنده واخلم، دوي دواړه پخواني ملګري و او ټرنپ زه د کانديدانو له منځه دغې دندي ته غوره کړم، له دې وروسته زه د پاليسي جوړونې په برخه کې مستقيماً ښکيل شوم او د واشنګټن د سياست له پټو او حيرانوونکو واقعيتونو خبر شوم، د بيل کلنټن د حکومت لومړی کال و او داسي ښکاريده چې ولسمشر د بهرنۍ پاليسي په اړه خاصه ليوالتيا نلري يواځي د داخلي پرمختګ په اړه يې فکر کوی د کابيني اکثره وزيرانو کوښښ وکړ چې ولسمشر خپلو مسوولیتونو ته متوجه کړي خو پايله يې نه درلوده يواځي د وزارتونو په کچه پاليسي جوړيدلې چې ډير لږ به پکې د سپينې ماڼي نظريات شامل و، وزارتونه او نوري اداريپخپل منځ کې سره نښتې وي او لکه ماشومان چې په ريګ کې لوبي کوي د يو بل سترګو ته يې ريګ شينده. يواځي يې د خپلو کاغذي کارونو او خپلو امتيازاتو څخه دفاع کوله هيڅا نه غوښتل په خپله اداره کې تر خپلو ګټو تير شي ځکه بيا ورته د کمزوري په سترګه کتل کيدل، کاغذي برلاسي ته اهميت ورکول کيده ملي ګټو ته پام به هسي تصادف و.

د بهرنيو چارو په وزارت کې هم دغه حال و بيروکراسي اوج ته رسيدلې وه هرې شعبې به کوښښ کوی چې په هره موضوع کې خپل نظر پر نورو ومني هيڅا هم پيښو او کارونو ته د واقعيتپه سترګه نه کتل او نه يې د بلي شعبې دلايل د عقل په تول ارزول، اکثره وخت به موضوعات د شعبو تر منځ دومره جنجالي شول چې د فيصلې لپاره به د بهرنيو چارو وزير ته وړل کيدل. د وزرات مشرانو هم د ښوونځيو د بدماشانو غوندي چلند کوی کله چې به د کومې موضوع په اړه بحث کيده نو د هغه مامور خبره درنه بلل کيده چې شا ته به يې کوم ځواکمن چارواکی و او هغه چا ورسره بحث نشوی کولی چې شاته به يې په هماغه اندازه زورور څوک نه و يا به يې ږغ تر وزيره رسيده، د بهرنيو چارو وزارت مامورينو به ګوتې په هوا کې نيولې وي وې چې معلومه کړي سياسي باد له کوم لوري لګيږي، پدغه شرايطو کې مي خپل ځان پر دغه څوکۍ بې فايدي باله، زما پر ځای به د منځني ختيځ د چارو له همږغي کوونکي او د فلسطين اسراييلو د سولې د پروسې له د مسوول ډينيس روز سره مشورې کيدلي، يو ځل مې پيټر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټرنپ ته ولیکل چې د پیښو او موضوعاتو په اړه ثابت دریځ ولري، راته ویې ویل : ډیره ښه خبره ده له ډینیس سره یې همږغي کړه. هیچا زما خبرو ته پام نکوی ځکه تر شا می داسي ځوک نه و چې دوي ورڅخه وویریږي.

د وزارت په اړه زما فکر اوښتیو یو ملګري مي راته ویل تکړه سړی یې ښې خبري کولی شي، په موضوعاتو پوهیږي خو د سیاسي قضاوت پر مهال هر موضوع هیره وه چې له جنجاله یې خلاص یې. ما د وزارت ټولو مسوولینو ته ډیر احترام درلود هغوي ډیر ذهین او پوه کسان و خو زما ځکه پري زړه سوځیده چې دوي په څنګه کاري ماحول کي کار کوي او دوي دا هر څه څنګه زغمي.

بیرته مې د سي ای اې خواته مخه کړه هغه چې کارکوونکي یې مغروره او تنګ نظره و، زه بیرته د هغو خلکو منځ ته ورغلم چې مسلک یې د درواغو او د بل د تیر ایستلو تقاضا کوي خو په بهرنیو چارو وزارت کې یو کلن کار مي ډیر ارزښتمن و او هغه څه چې مې هلته زده کړل تر ډیره به یې په یاد لرم.

په سي ای اې کې بیا یو جنجالي ماموریت راوسپارل شو د ټول وژونکو وسلو د مخنیوي پروګرام،د منځني ختیځ او جنوبي اسیا په برخه کې تر ټولو لوي پروګرام و او له شمالي کوریا ماسیوا د اټومي، کیمیاوي، بیالوژیکي وسلو او لیري واټن ویشتونکو توغندیو په اړه اندیښني په همدغو دوو سیمو ( منځنيختیځ او جنوبی اسیا) پوري تړلې وي ایران، عراق، پاکستان، سوریه او لیبیا هغه هیوادونه و چې دغو وسلو ته د لاس رسي هڅي یې کولي او موږ ته د سپیني ماڼۍ له لوري لارښوونه شوې وه چې په سختۍ سره یې مخه ونیسو، د سي ای اې مشر چې څومره د صدام پر ضد اقدام ته چمتو و اوس د ټول وژنې د وسلو پر وړاندي له

(c) ketabton.com: The Digital Library

خطر سره ډغرو ته چمتو نه ښکاريده ما په يادو هيوادونو کې له خپلو ځانګو سره اړيکي ونيولې او او هغوي مې وهڅول تر څو د ټول وژنې د وسلو په اړه خپل راپورونه زيات کړي او دوي ته مې له خپله اړخه د مالي او تخنيکي مرستې ډاډ ورکړ، زموږ د بخش مسوول به هر څه تر نظر لاندي ساتل خو زه يې له هيڅ کار منع کړی نه يم.

ماته معلومه شوه چې سي ای اې له نژدي ختيځ او جنوبي اسيا اخوا د نورو سيمو د ويجاړونکو وسلو د پراختيايي پروګرام‌په اړه کوم منظم پلان نلري، اوس د دغو وسلو ټکنالوژي په ټولو لويو وچو کې د خپريدو په حال کې وه د هرې سيمې لپاره مسوولې ځانګې به هم پخپله برخه کې د دغو وسلو د مخنيوي هڅې کولې او ما غوښتل چې زموږ د دفتر له لاري ټولي چاري همږغي شي خو دفتري بيروکراسي‌مو پر وړاندي خنډ وه، يوه ورځ مې په عملياتي رياست کې د ويجاړونکو وسلو پر وړاندي د خپلو عملياتو پلان بيانوي هلته نهه تنه له اوو بيلابيلو ځانګو ناست و خو په اقدام کولو کې هر يو ډاريده او داسي غوښتنه يې کوله چې بايد يوه ګډه حل لاره ولټوو بالاخره زما وړانديز دا شو چې د ويجاړونکو وسلو د مخنيوي پروګرام بايد په رياست بدل شي او نه يواځې پر نژدي ختيځ او جنوبي اسيا تمرکز وکړي بلکه بايد نړيوال وی دا وړانديز مو لوړپوړو چارواکو ته وسپاره او زه هغه وخت حيران شو چې دغه غوښتنه ومنل شوه زما ښه ملګري او مشاور جيم پاويټ يې د رييس په توګه وټاکل شو.

پدغه کار ټول نه و خوشاله، د نژدي ختيځ ځانګې خپله مهمه برخه له لاسه ورکړه او په نوي رياست مربوطه شوه او د ځانګې مشرانو پدغه کار کې زه مجرم بللم، مخکي تر دي چې زه هم نوي رياست ته ولاړ شم د نژدي ختيځ د ځانګي مرستيال خپل دفترته ور وغوښتم او راته يې وويل : پام دي اوسه ! که نوی رياست ناکام شو لکه چې همداسي ښکاري، او تا بيا دندې ته اړتيا لرله نو دلته راتلی شې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په واشنګټن کې پنځه کاله تیر شوي و او زما ډیر زړه کیده چې بیرته ساحې ته ولاړ شم هڅې مې پیل کړې چې په کوم هیواد کې د سي ای اې د څانګې مسوولیت واخلم، پاولا هم زما په څیر د بهر تګ ته لیواله وه زموږ پلان تر ډیره عملي شوی و چې یو ناڅاپي ټلیفون راته وشو، ډیو کوهن پدې وروستیو کې د عملیاتي ریاست مشرتوب ته ارتقا کړې وه د هغه ټاکنې ته په غیر عادي سترګه کتل کیدل هغه یو فصیح او نه ویریدونکی کس و او د پټو خدماتو لپاره یې واضح تګلارې درلودې، دوه کاله وړاندي په عملیاتي ریاست کې د خیانت په تور د (الډریچ امیس) نیول کیدو ستره رسوایي جوړه کړه موږ ټولو د خجالت احساس کوي او د ملامتیا ډیره پړه پر هغو افسرانو لویده چې د الډریچ په مقرری کې یې لاس درلود او هغه وخت چې نوموړې د روسیې له لوري جذب کیده د هغه په پیژندلو کې پاته راغلي و ددې پیښې سره په عملیاتې ریاست کې د اصلاحاتو لړی پراخه شوې او روزنې جدي شوې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوهم څپرکی

## له منځه وړونکی

### درېمه برخه

بل بدلون د تکنالوژي دوديدل و چې د جاسوسي سازمانونو لپاره يې د عملياتو او استخباراتو ښه امکانات برابرول، په رياست کې نور د سکرترانو، کاتيبانو او لوژستيک د مامورينو پخوانی قدر نه و پاتی، ځای يې په تکنالوژي پوه او مسلکي کسانو نيولی و همدا ډول د زما په څير د انساني استخباراتو ماهرينو هم خپل قدر له لاسه ورکوی د عملياتو لپاره نوې ډلې جوړيدې د مثال په توګه (په نښه کوونکي) چې دا د مخکينو کسانو لپاره د منلو نه وې پر وړاندي مو ډول ډول دلايل راوړل خو کوهن د منځني کچې له افسرانو يو ټيم وټاکه او ويې ويل چې د نويو ډلو موثريت و ارزوي او نادندری پای ته ورسوي.

له ډيو کوهن زما پيژندنه هغه مهال وشوه چې ما د ويجاړونکو وسلو د مخنيوې په څانګه کې دنده درلوده هلته يې زما کار ليدلی و چې ما به خپلو همکارانو ته د جديت او پر خپلو لاس لاندي جاسوسانو د دقيقې څارنې ويل، پر ډيو کوهن زما ژر پرمختګ اثر کړی و له ما يې غوښتنه وکړه چې که د عملياتي رياست د ښووښځي چې د (فارم) په نوم ياديده مديريت وکړم، دا هم زما لپاره يو غير عادي بدلون او پرمختګ و عموماً د روزنيزو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادارو مشران لوړ پوړی او تجربه کار کسان وي چې له دې دندې وروسته اکثره تقاعد کیږي زما غوندي يو کس چې نوی وی او لا لوړي رتبې ته نه وي رسيدلې د  داسيږدندي وړاندي کول د کوهن له لوري د بدلون راوستو ښودنه کوله، زما د مقررۍ پر وړاندي انتقادونه هم وشول خو کوهن ورته غوږ نه ایښود یو مامور ورته ویلی و چې د ښوونځي مدیریت ته زما انتخابول لا ډیر لیري ده ، خو کوهن ورته غبرګه کړې وه: ښه دا دونه خبره نه ده.

که څه هم کوهن ما ته د ددې دندې د رد واک راکړی و خو زما لپاره دا دنده ډیره مهمه وه ځکه ما کولی شوی له دې لاري په ټول ریاست کې اثر ولرم او مثبت بدلون پکې راولم، ما کولی شو له هغو تنکیو جاسوسانو سره چې ډیرو زده کړو ته یې اړتیا درلوده لازمه مرسته وکړم زه پداسي وخت کې د ښوونځي مدیر شوم چې سوړ جنګ پای ته رسیدلی و او نور په هغه اړه زیاته توجه نه کیده، نوي کسان ښوونځي ته جذب شوی و د هغواستادانو په  مرسته چې تازه له بهره  راستانه شوي جاسوسان و  موږ وکولی شو چې خپلو زده کوونکو ته معیاري زده کړي  ورکړوهغوي ته د جاسوسۍ د هنر بیلابیلې څنډې بیان کړو او خپلې تجربې ورسره شریکي کړو.

موږ په خپل ښوونځي کې زده کوونکو ته د پخوانیو کارنامو د بیان پر ځای هغه اهداف ښودل چې د دوي پر وړاندي و او باید دوي ورته ځان رسولی وای ، زما سره ښوونکي اکثره یې بدلیدل را بدلیدل، تلونکی به یې بیرته له هیواده بهر استول کیدل او پر ځای به یې نوي راستانه شوي کسان د ښوونکو په توګه راتلل، د دغو تجربه کارو کسانو په شتون کې زما کار ډیر اسانه و زه به اکثره په واشنګټن کې وم او د ښوونځي په اړه به مې زړه ډاډه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زړه پوري دنده وه د سي ای اي لومړنۍ روزنې سړی بالکل غرقوي، په څلیرویشت ساعته توګه د ژوند د بدلون درسونه وي کله چې ما پخپله کلونه وړاندي دغه روزنې سرته ورسولې نو بیا مې قسم وکړ چې ځان به لیري ترې ساتم خو اوس چې د نوي جاسوسانو د تربیې او روزنې خبره وه ما ځان په ښوونځي پوري تړلی احساس کړ، ما ته د خپلو ترسره کړو دندو د ارزونې ښه موقع وه د خپل مسلکي ژوند سره مې مینه نوې شوه او هر څه چې مې په توان کې و هغه مې له خپلو زده کوونکو سره شریکول، له اخلاقي نظره زموږ ښوونځي هیڅ کمی نه درلود ما د پټو خدمتونو په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره اخلاقي معیارونه وضع کړل او خپلو ځوانو زده کوونکو ته مو وښودل، څو کاله وروسته زما له خوا لیکل شوي اخلاقي معیارونه نه یواځي د درس برخه وګرځیده بلکه په کاري ساحه کې د اخلاقي اصولو په توګه هم ومنل شول چې دا زه له خپل مسلک سره لویه مرسته بولم او ډیر پرې ویاړم.

د (فارم) ښکلی ښوونځي، باغونه او چمنونه یې په زړه پوري و زه یې بیرته عادي ژوند ته ګرځولم د ماشومانو سره عادت کیدم کورنۍ ته مې پام واوښت، زوي مې (ډوګ) هم لوی شوی و د کبانو ښکار، باسیکل چلول او په لرګینو خونو کې اوسیدل یې زده کړي و، زموږ کور د باوري ملګرو په منځ او کلکو امنیتي پنجرو تر شاه د ښوونځي په اړخ کې و هیڅکله مو د کور دروازه نه تړله، هغه ماشومان چې به ښوونځي ته تلل نو د بس دریدو تر ځایه به پر باسیکل تلل هلته به یې باسیکل همداسي پریښود او چې بیرته به راتلل نو خپل باسیکلونه به یې سالم موندل، کله نا کله مو ماپښین مهال له لیري څخه د ټوپکو ډزې اوریدلې چې د روزنې پر مهال به ترسره کیدي همدارنګه ځیني وخت به د شپې مهال د خاصو ځواکونو چورلکو هم په سیمه کې په ټیټه ارتفاع روزنیزې الوتنې ترسره کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغو کلونو کې مې د سي ای اې له نوي رییس جورج ټینټ سره اړیکي
پیدا کړي هغه پر روزنیز پروګرامو ډیر ټینګار کوی او پخپله به یې هم زده
کوونکو ته ولوي کولې دزده کوونکو دفراغت په مراسمو کې یې حتماً
برخه اخیسته، یوه ورځ چې جورج ټینټ د فراغت په مراسمو کې زما
خبري اوریدلې وي ماښام یې د عملیاتي ریاست له رییسه پوښتلی و چې
زما راتلونکي دنده به چیرته وی؟ هغه ورته ویلي و اسلام اباد کې.

جورج زیاته کړې وه : خو زما په نظر د سوریې لپاره ښه دی، پدغه مهال د
اسراییلو او فسلطین تر منځ بیا اخ و ډب زیات شوی له دواړو لوریو
استخباراتي او نظامي تحرکات هم ډیر شوي و ټینټ او د عملیاتي
ریاست رییس د منځني ختیز په یو اوږده سفر ولاړل تر څو حالات کابو
کړي، د اوریدو له کراره د عملیاتي ریاست مشر غوښتل د منځني ختیز د
حالاتو په کابو کولو سره خپل شهرت زیات کړي، هغه د سفر پر مهال
جورج ته قناعت ورکړی‌و چې زه پاکستان ته ولاړ شم، خو له درې کلنې
نا امیدۍ وروسته د فسلطین او اسراییلو د سولې بهیر چې د کلنټن ادارې
له لوري یې زیاته هڅه کیده ګډوډ شو دوهمه انتفاده پیل شوه. په همدې
وختونو کې زه، پاولا او ډوګ د جنوبي اسیا پر لور وخوځیدو.

مور ټول د خپلو تجربو په اساس پر وړاندی ځو زه چې خپل ځان ته فکر
کوم نو عجب حالت سره مخ شم بیلابیلو حالاتو او تجربو راڅخه د بیل
طبیعت او متضاد شخصیت جوړ کړی و، د (فارم) ښوونځې یوې
سرمعلمې سټیپن کویي یو وخت راته ویلی چې پدې اداره کې د دندې پر
مهال له کورنۍ او ملګرو سره اړیکي نه پاللل کیږي او ته (زه) چې د سي
ای اې یو وفادار غړی یې اړیکي دي د ویجاړیدو پر خوا دي، هغه وخت ماته
دا خبره بابیزه معلومیده خو وروسته پوه شوم چې حقیقت وایي. ډیر
کلونه پر له پسې کار، اداري ته ژمنیا، د خپلو لوړو پوړو کسانو کاري او
اخلاقي کمزوري هغه څه و چې ما به یې تل په اړه فکر کوی خو پریکړه
مې نه شوې کولی زمور اداريېته تر کارکوونکو اهداف مهم و زه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهیدم چې اوس په اداره کې زما مقام چیرته و؟ زه تل خپلې وظیفې‌ته ژمن وم خو بیا مې هم نیغه لاره نشوی تعقیبولی.

په هر حال زه که ښه وم که بد خو د سي ای اې له لوري د ۱۹۹۹ کال په اوړي کې په اسلام کې د دغې ادارېد څانګې د مسوول په توګه وټاکل شوم.

د جګړې پر لاره

پاکستان، طالبان او القاعده

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم څپرکی

ښه وختونه

طالبانو چې په پښتنو کې کوم محبوبیت کې تر لاسه کړ هغه يې د افغانستان په نورو قومونو چې د هیواد په شمال کې میشت دي لکه تاجکو، ازبکو او هزاروکې نصیب نشو، له هزاره ګانو سره چې د شیعه مذهب لارویان و د سني طالبانو برخورد ډیر سخت و په شمال کې لږکي قومونه د طالبانو پر ضد د (افغانستان د ژغورنې متحده اسلامی جبهه) په نوم تر یوه چتر لاندي سره راټول شو چې وروسته دغې جبهه د شمالي ټلوالي په نوم مشهور شوه، هغه وخت چې ما په سیمه کې خپله دنده پیل کړه شمالي ټلواله له طالبانو سره په بده کورنۍ جګړه کې ښکیل وه، د دغې ټلوالي جګړه ماران د هیواد په شمال او شمال ختیځ کې تر لیري پرتو سیمو پر شا تمبول شوي و.

د پاکستان پر استخباراتي‌اداره ای ایس ای دا تور لګول کیږي چې طالبان دوي رامنځ ته کړي خو دا خبره سمه نه ده مګر اسلام اباد ډیر ژر دغه د زده کوونکو ډله په غیږ کې ونیوله او لومړنۍ مرستې يې د ای ایس ای په وسیله ورته ورسولې تر څو له دې لاري پاشلې افغان ډلې د سنیانو تر مشرتابه لاندي سره یو ځای کړي او له پاکستان سره ښې اړیکي ولري. په حقیقت کې له شمالي سره د طالبانو د جګړو له امله پاکستان د طالبانو ملاتړ ځکه مهم باله چې شمالې ټلوالي له روسیې او هند سره نژدي اړیکي درلودې، د پاکستان له رامنځ ته کیدو سره د دغه هیواد واکمن دا اندیښنه لري چې کیدای شي له ټولو لوریو د دښمنو هیوادونو په محاصره کې راشي چې د دوي په نسبت له هند سره به نژدي وي ځکه نو د دغې طبعې اندیښنې له امله پاکستان له طالبانو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواخوري درلوده او په ښکاره يې د دوي له لاري خپلې سيمه ييز سياسي ګټې تعقيبولې.

په افغانستان کې کورنۍ او پر له پسې جګړې او له طالبانو د پاکستان ملاتړ د امريکا د حکومت لپاره د انديښنې وړ نه و ځکه هغه وخت لا په سيمه کې د ډرامې بل لوبغاړی (اسامه بن لادن) نه و، د عرب بيلونر زوي اسامه د شوروي پر ضد د افغانانو د جهاد پر مهال په جګړو کې ځرګند رول درلود له هغه سره په کافي شمير عرب جنګيالي و او د يرغلګرو کافرانو پر وړاندي يې له افغان مسلمانانو دفاع کوله، هغه په ۱۹۸۰ کې هم سخت دريځه نظريات درلودل خو کله چې په ۱۹۹۰ يمو کلونو کې د سعودي عربستان حکومت په خپله خاوره کې د امريکايي ځواکونو له ميشتيدو سره موافقه وکړه نو ورسره دغه سخت دريځي هم زياته شوه، دغه ځواکونه د خليج د لومړۍ جګړې پروخت ددې لپاره په عربستان کې ميشت شول چې کويټ د صدام له ولکې خلاص کړي، په عربستان د امريکايي سرتيرو د ميشتيدو د مخالفت له مسئلې سره د دغه هيواد حکومت له اسامه سره اختلاف پيدا کړ او هغه يې اړ کړ چې سوډان ته مهاجر شي هلته اسامه د اسلامي سخت دريځو ډله منظمه او رامنځ ته کړه چې نوم يې پر القاعده کيښود، د القاعده لغوي مانا (اساس) دی، له دې سره سم اسامه د سي ای اې او نورو امريکايي استخباراتي  اداروپام د ځان په لوري واړوه، د امريکا له پرله پسې شکايتونو وروسته د سوډان حکومت اسامه ته وويل چې کوم بل ځای ته ولاړ شي او ۱۹۹۶ کال کې ايله طالبان کابل ته رسيدلي و چې اسامه له خپلو لږ شمير عرب جنګيالو سره افغانستان ته ولاړ.

په افغانستان کې د هغه د ملګرو شمير چې ډيری يې عربو په تيزۍ سره زياتيده، دوي دومره ډير هم نه و فقط راتلل چې د طالبانو په ملاتړ له شمالي ټلوالي سره  وجنګيږي.بالاخره يې ځانته د (عرب ۵۵۵ غونډ) په نوم جلا نظامي ډله جوړه کړه، په افغانستان کې د القاعده په کمپونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تروریستي او نظامۍ زده کړو لړۍ پیل شوه او هغه کسان چې له اسامه سره به یې بیعت کړی و او د القاعده رسمی غړي به و پدغو روزنیزو مرکزونو کې روزل کیدل، د اسامه دغو نړیوالو ملاتړو ځانونه افغان عربان بلل.

په ۱۹۹۶ کال کې اسامه بن لادن د امریکا پر ضد د جګړې اعلان وکړ خو دغه اعلان ته په لویدیځه نړۍ کې دومره پام ونشو مګر په ۱۹۹۸ کې په ختیځه افریقا کې کې تر بریدونو وروسته هر څه بدل شول، د کینیا په نایروبي او د تانزانیا په دارالسلام کې د امریکا پر سفارتونو د موټر بم حملې وشوې او پړه یې پر القاعده ور ولویده، په څو اونیو کې امریکا د دغو بریدونو د انتقام په موخه په افغانستان کې د القاعده ګڼ روزنیز کمپونه په کروز توغندو وویشتل، د امریکا د توغندیو برید یو سمبولیک کار و، د امریکا حکومت ونشو کړای د افریقا له بریدونو وروسته د القاعدي پر ضد څه وکړي یا هم خپل اصلي هدف له منځه یوسي، خو بیا د کلنټن اداري د اسامه پر خلاف کلک دریځ نیولی و دوي له ملاعمر او طالبانو وغوښتل چې اسامه امریکا ته وسپاري تر څو هغوي یې محاکمه کړي، کله چې طالبانو دغه غوښتنه رد کړه نو امریکا پر طالبانو بندیزونه ولګول او ملګري ملتونه یې هم قانع کړل چې پر طالبانو بندیزونه ولګوي.

عدالت ته د اسامه بن لادن د راکشولو په برخه کې د امریکا احساسات ژر ساړه شول له هغه څخه په راتلونکي کې هم د ستر خطر ویره نه وه، د اسامه د نیولو لپاره دځانګړو ځواکونو عملیات نا ممکن بریښیدل هیڅکله چا پدې اړه فکر ونکړ، مور چې د القاعدي د مرکزونو په اړه کوم معلومات تر لاسه کړل یواځي هوایي بمبار او د کروز توغندیو بریدونه ممکن و خو بیا یې هم دقیق وخت او سم ځای ته اړتیا وه تر څو د اضافي تلفاتو مخنیوی وشی، په هغه وخت کې د بې پیلوټه الوتکه څخه کار نه اخیستل کیده، ډیر لږ وختونه داسي استخباراتي معلومات تر لاسه شول

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دقیقېو خو بیا حکومت پریکړه وکړه چې په برید کې د بې ګناه کسانو د زیانمنیدو خطر ډیر زیات دی.

د اسامه بن لادن د تعقیب لپاره د امریکا زړه نا زړه توب او خطر نه منلو موږ د پاکستان له رټلو منع نه کړو، پاکستان یو له هغو دریو هیوادونو و چې په افغانستان کې د طالبانو حکومت په رسمیت پیژندلی و، له پاکستان سره زموږ د رسمي ارتباطاتو په ترڅ کې به دا ګیلي کیدلي چې ولي د داسي حکومت ملاتړ کوي چې هغوي زموږ دښمن ته ځای او پناه ورکړې ده. په هغو شرایطو کې داسي نه ښکاریده چې سي ای اې دي پخپله له اسامه بن لادن سره معامله یو طرفه کړي، ما د خپل کار په ترڅ کې په وارولیدلي چې د امریکا د بهرني پالیسي په نظر کې نیولو او خطر منلو سره به موږ ځیني دندي سرته رسولې، د امریکا د حکومت غلطي داده چې له سي ای اې غواړي چې هر کار په سمه، منظمه او بالکل پټه توګه سرته ورسوي. ما فکرکوی په اسلام اباد کې زما له دندو یوه یې د هغه سړي نیول یا وژل دي چې د سي ای اې مشر جورج ټینټ په خپل وخت کې د امریکا د امنیت لپاره د تر ټولو لوي خطر په توګه یاد کړی و، دا کار ما په خپلو امکاناتو یا هم د حکومت په لږ مرسته کولی شو ځکه هدف په یو نا ارامه، لیري پراته، بې کنتروله او کورنۍ جګړه کې ښکیل هیواد کي و، پداسي سیمو کې موږ د چا د وژنې لپاره د فدرالي اداريلو لوري وضع شوي اصول په نظر کې نه نیسو، که هدف مو له منځه وړی وای حکومت به مو له لوي سرخوږي خلاص و او بل د استخباراتو د کارکوونکي په حیث دا زما دنده وه او په منلو کې به یې هیڅ زړه نا زړه شوی نه وای، ما کلونه د دا ډول ننګونو پر وړاندي کار کړی دی او اوس یې ښه وخت و.

د کار د پیل په لومړیو شپږو میاشتو کې مې پر دې کار وکړ چې موږ باید څه وکړو؟ او له هغه را وروسته مې پر خپلو راتلونکو دندو او د هغه لپاره پر تیاري کار وکړ د ۱۹۹۹ په ډسمبر کې زه په دې پوه شوم چې د اسامه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بن لادن او القاعده پر وړاندي هغه لاره چې موږ تر دې وخته تعقیبوله هدف ته نه رسیده، ما باید د ستونزې په اړه له بل لوري فکر کړی وای او د حل لپاره مې نوې لاره موندلې وای.

د جګړې پر لاره

پاکستان، طالبان او القاعده

دریم څپرکی

ښه وختونه

۱۹۹۹ د نومبر ۱۲مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

له پیښي وروسته یو عیني شاهد کیسه کوله چې د موټر حرکتونه ډیر عجیب او غریب و، د نامعلوم علت له مخې چلوونکی خپل موټر نشو پارک کولی ، موټر به څو فټه مخ ته شو بیا به یې ریرورس وکړ څو لحظې به انتظار و بیا به یې موټر مخ ته کړ او ریورس به شو دا کیسه لس – دولس ځله تکرار شوه موټروان به لږ ځای ته تغیر ورکړ خو موټر یې نه دروی او داسي ښکاریده چې ددې کار تر شا کوم علت شته، بالاخره موټر د امریکا سفارت له دیواله درې سوه فټه لیري پر سپین میدان ودرید، ور څیرمه د محکمې ودانۍ وه نور یې شاوخوا هیڅ موټر یا بل دیوال نه و. عجبه وه هیڅ مشکل نه و رښتیا هم عجبه وه .

ټیټ ږغ مې غوږ شو لکه سړی چې د خپلې ګیډي  اوازاوري، شیبه وروسته زه پر غولي پروت وم زما شاوخوا کسان چې تازه یې ماته د خپلو راپورونو اورول پیل کړی و ماته حیران و، پرې چیغه  مې کړه: پروت وکړئ

پداسي حال کې انسانان غواړي چې کړکیو ته ځان ورسوي تر څو وګوري بیرون څه روان دي؟ یو کال مخکې د کینیا په نایبروبي کې د امریکا د سفارت کسانو همداسي کړي و کړکیو ته نژدي شوي و خو کله چې چاودنه شوې وه نو اکثره یې ټوټه ټوټه کړي و، خو ما خپلو ملګرو ته امر وکړ چې په ټیټ تګ ځان مرکزي سالون ته ورسوي ځکه هلته به موږ د سفارت په شاوخوا ودانیو خوندي یو د سفارت ودانۍ له خښتو جوړه وه. څو پر له پسې دقیقې د سفارت د لوړ منزل ټول کارکوونکي په کښته هنکرونو کې غلي و، ښه شیبه وروسته زه په احتیاط ولاړ شوم تر څو وګورم څه روان دي، له نژدي کړکۍ مې په لیري میدان کې سپین موټر ولید چې لوګي ترې پورته کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

برید کوونکي ډیر چالاکه و درې عادي SUV ګاډي چې د شا د سیټونو هنداري په نیم شفاف پلاستیک پوښ  او۱۰۹  ملي متري چینایي توغندي پکې نصب شوي و په برید کې کاریدلی و، د سفارت تر څنګ برید کوونکو د ښار په بله څنډه کې د امریکا د سفارت د کلتوري څانګې بله ودانۍ هم په ریموټ  کنترول توغندي باندي په نښه کړې وه او دریم برید هم د ښار منځ کې پر هغه سیمه باندي شوی و چې ګڼ د ملګرو ملتونو دفترونه پکې میشت و، که څه هم وروستي دوه هدفونه په توغندیو لګیدلی و خو بیا هم هیڅوک نه و وژل شوي یواځي د سفارت د کلتوري څانګې د  دفترونو پاکستانی ساتونکی په پارچو سخت ژوبل شوی و، لومړنیو څیړنو ښودله چې زموږ پر  دفتر توغول شوي دوه توغندي یواځي څو انچه له هغې کړکۍ پاس تیر شوی و چې زه به ورته نژدې کیناستم، سره له دې چې بریدکوونکو پوره چمتوالی نیولی و او هدف یې هم سم په نښه کړی و خو یواځي د موټر او ودانۍ تر منځ واټن یې غلط کړی و او له دې امله زه او ګڼ ملګري مې وژغورل شو. دغه برید موږ متوجه کړو خو ښه داوه چې راکټونه څو انچه پاس تیر شوی و راتلونکی پسرلی په زړه پوري نه و یواځې څلور میاشتي مې کیدلې چې زه دې هیواد ته راغلی وم او له دا ډول هرکلی سره مخ شوم.

د استخباراتو د مسلکي کارکوونکي لپاره ننګونې په ګټه وي او هغه مهال په پاکستان کې ډیر داسي څه و چې موږ یې مصروفه کولي شو، دغه یاغي هیواد چې په ۱۹۹۹ کال کې یې د خپلواکي ۵۲ کلونه پوره شول په ۱۹۴۷ کال کې د برتانوي هند د تجزیې په پایله کې رامنځ ته شو او له هغه راهیسي یې خپل جنوبي ګاونډي سره څلور جګړې کړې وې، وروستۍ هغه یې د کارګل جګړې په نامه وه چې  اسلاماباد ته زما تر راتګ څو اونۍ وړاندي پای ته رسیدلې وه، حتی بهرنیان هم د هند پر وړاندي د پاکستانیانو کرکه په واضح ډول درک کولی شي، د دغو دوو هیوادونو تر منځ د اختلاف عمده ټکی د کشمیر غرنۍ سیمه ده چې د هند په شمال کې واقع ده، پاکستان غواړي چې د کشمیر مسلمان میشه سیمه په دوي پوري وتړل شي خو د دواړو هیوادونو تر منځ د ۱۹۴۷ د لومړنۍ جګړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راهيسي هندوستان دغه سيمه نيولې ده. د کشمير سيمه لا هم ويشلی ده او سرحدي کرښه يې د (کنترول لاين) په نامه ياديږي چې د دواړو هيوادونو د پوځونو له لوري يې کلکه څارنه کيږي، پاکستان د دې لپاره چې د کنترول‌لاين پوري غاړه کشمير هم تر لاسه کړی د سيمه ييزو ياغيانو ملاتړ کوي تر څو د اشغالګر هندي پوځ سره جګړه وکړي، په سيمه کې د هندي پوځ له لوري له عام ولس سره وحشت او تيريو د پاکستان د شيطانت لپاره لا ښه زمينه برابره کړيده.

د پاکستان رامنځ ته کيدل د سړې جګړې سره هم مهاله وه کله چې برتانوي هند وويشل شو هندوستان د هغه مهال شوروي اتحاد ته ځان نژدې کړ له هغوي څخه يې په پراخه کچه نظامي مرستې او وسلې تر لاسه کړې او ددې په مقابل کې کمونيست ضد پاکستان د امريکا خوا ونيوله، پدې وخت کې د امريکا له لوري يو اتحاديه رامنځ ته شوه چې وروسته يې د (سينټو) نوم ځان ته غوره کړ او موخه يې د کمونيستي مستعمرو زړه ماتي کول و، پاکستان د دغې اتحاديې غړی شو او د شوروي پر ضد يې له سينټو سره په خاصه توګه استخباراتي برخه کې همکاري کوله دا همکاري په پوره احتياط سره کيدله او د دواړو لوريو لپاره ګټوره او موثره وه ، خو کله چې په ۱۹۶۰ کې د شوروي په فضا کې د پرانسس ګرې جاسوسي الوتکه وويشتل شوه نو پراخ ډيپلومات کړکيچ رامنځ ته شو ځکه دغې الوتکې د پاکستان له هوايي ډګره الوتنه کړې وه .

په ۱۹۷۹ کال کې چې کله شوروي اتحاد په افغانستان بريد وکړ نو د امريکا او پاکستان اړيکي ډيري زياتي شوي ځکه هغه وخت د پاکستان د نظامي استخباراتو اداره (ای ايس ای) افغان مجاهدينو ته د امريکايي وسلو او پيسو د رسيدو عمده لاره وه چې بالاخره د همدې ای ايس ای له لاري افغان مجاهدينو ته پرمختللی دافع هوا (سټينګر) توغندي ورسيدل، د دواړو استخباراتي اداروله لوري د مجاهدينو ملاتړ د بری لومړی نښه وه او بالاخره په ۱۹۸۹ کال کې شوروي اتحاد د نظامي ماته وخوړه او له

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستانه يې خپل پوځونه وايستل، په هغه وخت کې د سي ای اې کارکوونکو د افغان جګړې لپاره د ( شوروي ضد جهاد) اصطلاح کاروله، د جهاد لغوي مانا هڅه ده او هغه مهال لا د جهاد لفظ خپل ارزښت نه و بايللی.

په ۱۹۸۰ لسيزه کې د امريکا او پاکستان تر منځ استخباراتي همکاري اوج ته رسيدلې وې او ورسره د دواړو هيوادونو عمومي اړيکي هم ډيري پراخي شوي وي، ددې پخاطر چې پاکستان د شوروي پر وړاندي د افغان جهاد د منظمولو خطر پر غاړه واخيست امريکا د دغه هيواد سره ډيري مرستي وکړي چې پکې د F – 16 جنګي الوتکو ورکړه او د زياتو اقتصادي او پرمختيايي پروګرامونو عملي کول شامل و.

د امريکا او پاکستان د اړيکو له پيله د همکاري او مهربانۍ تر څنګ خړ پړتياوي او توپيرونه هم رامنځ ته شوي دي د امريکا لپاره پاکستان مهم خو په عينيحال کې يو جنجالی ملګری دی، پدغه هيواد کې ولسواکي د امريکا لپاره ښه خبر و خو هلته نظامي کودتاګانو امريکا په ويره کې اچوله، له هند سره جنګونه او په ختيځ پاکستان (اوسني بنګله ديش) کې د دغه هيواد لخوا سختو ظلمونو ته امريکا د ستونزو په توګه کتل او په خاصه توګه د افغان جهاد پر مهال له ۱۹۸۰ – ۱۹۹۰ پوري يو شمير کړيو د پاکستان په اړه دا نظر درلود چې دغه هيواد د امريکا د هغې پاليسي چې د پراخي ويجاړۍ د وسلو د مخنيوي لپاره يې عملي کوي سخت مخالف دی. پدغه لسيزه کې د کانګريس له لوري داسي قوانين تصويب شول چې د امريکا د حکومت لپاره يې د لنډ مهاله پاليسو د تطبيق مخه نيوله او پر ځای يې پر اوږده مهاله اهدافو د تمرکز غوښتنه کوله، خو بيا هم داسي ليوالتيا موجوده وه چې بايد له اوسنيو او واقعي ستونزو سره مقابلې ته د اوږد مهاله انګيرنو پر ځای لومړيتوب ورکړل شي. د امريکا حکومتونو ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ لسيزو کې د پاکستان پر وړاندي له نرمښت څخه کار اخيست خو کانګريس به د کلکې څارنې غوښتنه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ۱۹۸۵ کال کې کانګریس یوه لایحه چې د سناتور لیري پریسلر له لوري وړاندې شوه او وروسته د (پریسلر لایحې) په نوم مشهوره شوه تصویب کړه، پدغه لایحه کې له حکومته غوښتنه شوې وه چې باید هر کال د دې تایید وکړي چې پاکستان اټومي وسلو ته د لاس رسي هڅه نه کوي تر څو د دغه تصدیق له مخې د امریکا د مرستو حقدار و اوسي، خو دا چې پاکستان په افغان جګړه کې د شوروي پر ضد له امریکا سره همکاري کوله نو د ریګن او جورج بوش حکومتونو څو کاله اټومي وسلو ته د پاکستان د لاس رسي پر هڅو او خپلو قوانینو سترګې پټې کړې، پداسې حال کې چې پر له پسې شواهدو ښودل چې پاکستان د دغسې یو څه په لټه کې دي خو په ۱۹۸۹ کې شوروي عسکر له افغانستانه ووتل نو د امریکا د حکومت له لوري د قوانینو پر وړاندې د بې پروایي علت پاته نشو او په ۱۹۹۰ کال کې یې پر پاکستان بندیزونه ولګول چې له مخې یې له دغه هیواد سره ټولې نظامي او اقتصادي مرستې قطع شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهمه برخه

د جګړې پر لاره

پاکستان، طالبان او القاعده

دريم څپرکی

ښه وختونه

په حقيقت کې امريکا تر هغه وخته انتظار و ايست چې نور يې په پاکستان کې ګټه نه ليدله او وروسته يې د پريسلر لايحه پرې تطبيق کړه، دا د پاکستان لپاره يوه ترخه شيبه وه ځکه دوي فکر کوي چې د پريسلر لايحه يوائې پر دوي تطبقيږي پداسي حال کې چې د دوي ملي منافعو د اټومي وسلو د درلودلو غوښتنه کوي او د دغو وسلو درلودل د دوي حق دي ځکه د هند له لوري ورته بالقوه خطر متوجه دي. هندوستان په ۱۹۷۴ کې د اټومې وسلو ازموينه وکړه خو پاکستان د امريکا سره دملګرتوب په خاطر د پراخې ويجاړي د وسلو ته د لاس رسي حق نه درلود او هند ته د روسيې له لوري داسي کومه ستونزه نه وه، امريکا او پاکستان د اټومي وسلو په برخه کې لوبه کوله پاکستان به دغو وسلو ته د لاس رسي او ليوالتيا په برخه کې درواغ ويل او امريکا به د افغان جهاد په خاطر پر دغو درواغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګې پټولې، پاکستان به يې خپل نژدي دولت باله، دا لوبه ښه وه خو اخر واشنګټن پای ته ورسوله.

له وسله والو سخت دريځو د پاکستان ملاتړ تر هغه وخته د امريکا لپاره په زړه پوري و چې دغه جنګيالي په افغانستان کې د شوروي اتحاد سره جنګيدل کله چې افغان جګړه پای ته ورسيده نو د واشنګټن دلسچپي پکې کمه شوه، له اسلامپاله سخت دريځو څخه د ملاتړ نظريه په ۱۹۸۰ يمو کلونو کې د پاکستان د هغه مهال د ديکتاتور جنرال ضاوالحق له لوري رامنځ ته شوه هغه وويل چې د پاکستان بهرنۍ او کورنۍ پاليسي بايد د اسلام په نوم پر مخ يوړل شي، ضياوالحق په ۱۹۸۸ کې د الوتکې د سقوط په پيښه کې مړ شو خو د خپلې نظريې له مخې يې نوم ژوندی پاته شو. کله چې شورويان له افغانستان ووتل سمدستي د هند تر ولکې لاندي کشمير کې جګړو زور واخيست او هند پر پاکستان او په خاصه توګه د دغه هيواد پر پوځ د دغو نا ارامیو پړه ور اړوله، دا طبعي خبره وه چې هغه سخت دريځي چې تر اوسه په افغانستان کې په جګړه کې ښکيل و اوس يې په کشمير کې تر کنترول لاين هاخوا په هندي کشمير کې د نفوذ هڅې کولي او د پوځ ملاتړ ورسره و، په لږه موده کې د کشمير د جګړو لويه برخه د پاکستاني سخت دريځو له لوري پر مخ وړل کيده چې پخوا به ځايي کشميري جنګياليو کولي. که څه هم د دغو جګړه مارو له لوري ترسره کيدونکي تروريستي کړنې پخپله د پاکستان لپاره د انديښنې وړ نه وي ځکه هغوي دغه جنګيالي ازاديغوښتونکي بلل خو دا هغه څه و چې له امله يې واشنګټن پاکستان د تروريزم د ملاتړو هيوادونو په لست کې شامل کړ.

کانګريس په ۱۹۷۹ کې يو بله لايحه هم تصويب کړه او له مخې يې د بهرنيو چارو وزارت مکلف و چې هر کال د استخباراتي راپورونو پر اساس هغه هيوادونه مشخص کړي چې سخت دريځه وسله والو سره مرستي کوي په ۱۹۹۴ کې چې ما د بهرنيو چارو په وزارت کې دنده درلوده ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولیدل چې د پاکستان نوم په ځو بیلابیلو لستونو کې و، پداسي حال کې چې پاکستان د امریکا نژدي متحد بلل کیده خو بیا هم پدغو لستونو کې به یې له ایران او شمالي کوریا غوندي سر کښو هیوادونو سره یو ځای نوم لیکل کیده، مګر بیا هم د امریکا د بهرني پالیسي مسوولینو په ویل چې د پاکستان په اړه استخباراتي راپورنه په معیار پوره ندي او سترګې یې ترې پټولې.

د ۱۹۹۸ په مې میاشت کې هند په رسمي ډول اټومي سرګلولې و ازمویلې، د امریکا له لوري له سختو هڅو او د بندیزونو د اخیستلو له وړاندیز او نورو غوړه مالیو سره سره چې پاکستان له بالمثل کار څخه را وګرځوي بیا هم پاکستان په ځو ورځو کې دننه اټومي وسلو ته لاس واچوي او پنځه د اټومي وسلو ازمویني یې وکړې. پدې کار سره امریکا سخته خپه شوه، د ۱۹۹۹ کال په اوړي کې پاکستان خپل نظامي ځواکونه تر کنترولۍ لاین د هند لوري ته واړول او هلته یې د کارګل په غرني سیمه کې سخت تشنج جوړ کړ، هغه وخت چې زه پاکستان ته راغلم د امریکا او پاکستان اړیکي تر بل هر وخت سړې وې او دا سخته وه چې وویل شي چې اړیکي به تر دې هم سړې.ږي. ځو میاشتي وروسته د اکتوبر پر ۱۲مه، د پوځ مشر جنرال مشرف لومړی وزیر نواز شریف په یوه سپینه کودتا کې له واکه لیري کړ. د نواز شریف د واک پر مهال فساد اوج ته رسیدلی و او له واکه د بدنامۍ تر حده ناوړه استفاده کیده، د امریکا سفارت هیله درلوده چې پدې کودتا سره به په پاکستان کې بیرته ولسواک ارزښتونه را ژوندي شي او مثبت بدلونونه به راشي. خو د یو انتخاب شوي حکومت د چپه کولو په خاطر د واشنګټن‌له لوري د پاکستان پر نظامي حکومت نور بندیزونه هم ولګول شول.

دې هر څه د امریکایانو لپاره کومه خاصه مانا نه درلوده ځکه امریکا له ۱۹۸۹ نه چې شورویان له افغانستانه ووتل له جنوبي اسیا یې خپل لاسونه ور ټول کړي و، کله چې په ۱۹۹۲ کې د شوروي له ملاتړه برخمن د ډاکترۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نجیب الله حکومت د امریکا او پاکستان د ملاتړو مجاهدینو له لوري نسکور شو نو دغه جګړه ماران په خپلو کې سره په جنګ شول، په افغانستان کې سیاسي انارشي حاکمه شوه او کابل د کورنیو جګړو میدان شو، دیارلس کلن جنګ په دغه هیواد کې قبیلوي جوړښتونه کمزوري کړل، جګړه مارو او سیمه ییزو زورواکو چې شخصي ملیشې یې درلودې ځانونه د قومونو مشران بلل او د هیواد په لویه برخه کې ویره او وحشت خپور و.

د افغانستان په جنوبي ښار کندهار کې حالات تر بدو بدتر و د ۱۹۹۴ په مني کې ښار د سیالو جګړه مارو ته منځ ویشل شوی و او په پوره اطمینان سره یې خلک لوټل، پر هغه لویه لاره چې له دغې سیمې تیریده د نشه یانو او مجرمینو له لوري پاټکونه جوړ شوي و او د دغې لارې له مسافرو او موټر چلوونکو به یې جزیه اخیسته ځیني وخت به یې ښځې هم برمته کولې او تیری به یې وربانديي کوی.

یوې ۳۰ کسیزې ډلې ملایانو چې اکثره یې پخواني مجاهدین و او د دوي شاګردانو چې طالب یې ورته ویل د ملامحمد عمر په نوم د یو ناپیژندل شوي کس په رهبرۍ چې د دوي لخوا د مشر په توګه ټاکل شوی و ظهور وکړ او په ښکاره توګه یې موجودو جنایت کارانو ته وویل چې له خپلو کړنو لاس واخلي کله چې هغوي د دوي خبره ونه منله نو د ملاعمر کسانو د جنایت کارانو پر یوه تر ټولو بدنامه پوسته باندي برید وکړ پدې پوسته کې څو ورځې وړاندې دوې میرمنې چې د هرات ولایت اوسیدونکې وي برمته شوې وي، جنسي تیری وربانديي شوی و او وروسته وژل شوي وې، د ملا محمدعمر کسانو دغه پوسته له منځه یوړه او پدې کار سره یې د کندهار د اوسیدونکو چې د بې قانونۍ له امله پوزې ته راغلي و او د جرمونو د قربانیانو پام ځانته واړوي، په لږه موده کې دغه ډله خورا ځواکمنه شوه، سیمه ییزو سوداګرودغو دیني زده کوونکو ته چې ځانونه یې طالبان بلل وسلې، پیسې او موټر ورکول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

طالبانو د يو کوچنۍ خو مستقلې ډلې په توګه په ۱۹۸۰ يمو کلونو کې د کندهار ښار په وشاخوا سيمو کې د شورويانو پر وړاندې په جهاد کې برخه درلوده، له نورو ډلو سره د دوی توپير په دې کې و چې د نورو ډلو د قبيلوي ريښو پر ځای يې جوړښت په ديني لحاظ شوی و، اکثره غړي يې په پاکستان کې د مهاجرو د کمپونو ځوان زده کوونکي و، ډير شمير طالبان هغه يتيمان و په ديني مدرسو کې زده کړې کړې وې او په کمپونو کې را لوی شوي و. کله چې د شورويانو له ماتې وروسته دغه کسان له کمپونو په دايمي توګه خپلو کليو ته راستانه شول نو له دوديز او کليوالي ژوند ځخه د ليري پاته والي په وجه دوی په ټولنه او قوم کې تنها پاته شول که څه هم يو شمير دغه کسان د شوروي پر وړاندې جهاد او بيا وروسته کورنيو جګړو کې ښکيل و خو د زورورـجګړه مارو په شتون کې دوی کوم خاص حيثيت نه درلود.

په کندهار کې د جنايت کارانو د پوستې پر وړاندې له کوچني پاڅون وروسته دغه کسان په ګډ شمير کې د ملامحمد عمر په ډله ورګډ شول، طالبان ډير ژر د يو سيمه ييز سياسي ځواک په توګه مطرح شول او د خلکو پام يې ځانته واړوي، اکثره جګړه مار قوماندان د دې پر ځای چې ورسره وجنګيري ورسره يو ځای شول او د راتلونکي په اړه يې سره جوړ جاړی وکړ.

په کندهار کې له پرمختګونو وروسته ډير ژر طالبانو شمال لور ته مخه کړه او د سوځونکي اور په څير خپاره شول دغه ډله چې ډيری غړي يې د پاکستان له مدرسو راغلی و سخت دريزه اسلامپاله، بې زغمه او نه بخښوونکي کسان و خو د سيمي افغانان چې د خپلسريو او بې قانونيو له امله ځوريدلي و د دغې ډلې رامنځ ته کيدل د حالاتو اړتيا بلله، طالبان ساده خو رښتنی خلک و او د پيل په دوو کلونو کې د دوی اکثره نظامي برياوي د دوي د پوځي وړتياو په نسبت د هغو پاځونونو له امله وې چې سيمه ييزو پښتنو به پخپلو سيمو کې د ټوپکيانو پر ضد کول او له د طالبانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

له رسيدو سره سم به يې واک دوي سپاره، پراخې سيمې يې بې له
جګړې ونيولې او په ۱۹۹۶ کال يې د افغانستان پلازمينه کابل هم د طالبانو
لاس ته ولويد.

نځم څپرکی

د طالبانو مينه

جنوري ۲۰۰۱

زه د سفير ميلام د استوګنځۍمخ ته په بې صبرۍ منتظر وم او هڅه مې
کوله چې په داسي موقع کې زما طبعي ليوالتيا پټه کړم، دا يو ډول بې
عزتي وه او زه لګيا وم د راتلونکي ميلمه په اړه مې ځان ته قناعت
ورکوي د پاکستان د دغې اوارې سيمې اکثره ژمي ملايم وي خو نن
اوربښت شوی و او يخه شپه وه ما کوټ هم نه درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لیدنې امکانات د سفارت د یو تن ارتباطي اکبر له لوري برابر شوي و هغه اصلاً افغان و اوس په امریکا کې اوسیده او په استخباراتي چارو کې شل کلنې بوختیا یې زه دې ته اړ کړی وم چې پر ده او دده په څیر نورو کسانو په اسانه باور ونه کړم، چالاکه حکومتونه فرصت طلبه اشخاص جذبوي او دغه اشخاص بیا غواړي چې په هر رنګه چې وي چانس له لاسه ورنکړي او ځان خپل هدف ته ورسوي. د اکبر د شخصیت په اړه که فکر وشي نو هغه ثابته کړه چې کار کولی شي پدغه شپه اکبر موږ ته د طالبانو د بهرنیو چارو د وزارت مرستیال ملاجلیل اخوند راوست، چې په عام ډول د ملا جلیل په نوم یادیږي.

اکبر پخپله یو عجب شی و دا چې پښتون و نو ځکه تمه ترې کیده چې له طالبانو سره به ښې اړیکي ولري، پوره شرابي او چرسي و چې دا کار یې د هیڅ طالب لپاره د زغملو وړ نه و په هغه هیواد چې بې ږیري کس به سمدستي بندي کیده اکبر به تل ښوی خریلی مخ ګرځیده او دا ځکه چې له ده سره د ملا جلیل او د هغه د مشر د بهرنیو چارو د وزیر وکیل احمد متوکل ملاتړ و، په هغه هیواد کې چې د سخت دریزه او تنګ نظره پولیسو له لوري اداره کیده د اکبر کارونه غیر عادي و، دده زړورتوب یو مثال و هر څوک چې غواړي په ښکاره اصول تر پښو لاندې کړي باید زور ولري.

د اکبرپیشنهاد ساده و هغه پدې وروستیو کې ملاجلیل او یو شمیر نور طالب مشران پدې قانع کړي و چې که نړیوال بندیزونه لیري شي نو دی کولی شي د طالبانو لپاره داسي تجارتي اړیکي جوړې کړي چې دوي ورته اړتیا لري خو داسې لاره یې په نظر نه ورتله چې د اسامه تر ستونزه پکې ګام واړوي، اکبر د امریکا له حکومت سره هم ګڼ تماسونه نیولی و چې که له طالبانو سره یوې معاملې ته یې راضي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سخته ده چې زمونږ لیدنې ته د استخباراتيفعالیت نوم ورکړل شي، مونږ د امریکا سفارت په ستر ودانۍ کې چې جګو دیوالونو احاطه کړې او پاکستاني عسکر یې امنیت ساتي د سفیر په استوګنځيکې سره ولیدل، ددې لپاره چې دا لیدنه پټه وساتو مونږ ځیني ستونزي ولیدلې، اکبر له ملاجلیل سره ملګری و دوي د طالبانو د سفارت د موټر پر ځای د اکبر په شخصي موټر کې راغلل، پکار وه چې پدغه لیدنه کې د طالبانو سفیر ملا عبدالسلام ضعیف هم برخه درلودای خو هغه مو خبر نه کړ، او په دخولي دروازه کې چې ټول کسان لیدل کیدل ما داسي ترتیبات ونیول چې د اکبر د لنډ کروزر موټر د شا په سیټ کې ناست سړی د تورو ښیښو تر شا همداسي نا پیژندلی پاته شي، میلام نور ترتیبات هم نیولی و خپل کارکوونکي یې مازیګر وختي رخصت کړي و.

له موټره را کښته شوی کس تر ۵،۷ فټه جګ نه ښکاریدی، ګرد ماشومانه مخ یې و، ږیره یې کوچني کړې نه وه خو بیا هم دومره لویه نه ښکاریده هغه د یو عادی طالب په شکل پنډ خام خړ رنګه پرتوګ کمیس اغوستی او ورباندي یې نصواري رنګه انګیا او بیا صدرۍ اغوستې وه، جامې یې په پنډ خړ څادر کې پټې وي او توره کندهارۍ لونګۍ یې پر سر وه چې اوږده شمله یې دده پر چپه اوږه را اوښتې وه ، لونګۍ یې چې د مخ خواته کوچنۍ ښکاریده د سر شاتنۍ برخې ته ور ښوییدلې وه.

د ملاجلیل د عمر اکثره افغانان په کورنیو جګړو کې ښکیل پاته شوي و او د بهرنیو چارو د مرستیال وزیر په توګه ملا جلیل هم له دغې ډلې استثنا نه و، هغه ګوډ ګوډ تلی او پر راسته پښه یې زیات زور کوی، کله چې هغه د سفیر څنګ ته پر بازو لرونکي څوکۍ کیناست دوو شیانو ته یې زما پام شو یو یې توري (ریبوک) څپلۍ وي چې تر چوکۍ لاندي ښکاریدي او بل یې د مخ په جیب کې د ګراني بیې (مونټ بلنک) قلم و چې بې له شکه دواړه یې د اکبر ډالۍ وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې د بهرنیو چارو وزارت کوم کارکوونکی د بل هیواد له دیپلومات سره چې تر اوسه یې سره نه وي لیدلی او یا تصادفي سره پیښ شي خپل مجلس د یو بل د پیژندګلوي او د اړیکو نیولو په اړه پیلوی او وروسته د دواړه هیوادونو پر مشترکاتو خبري کوي، دلته د مجلس پیل میلام وکړ او د اسامه بن لادن د ور سپارلو په اړه یې د امریکا غوښتنه بیان کړه، جلیل وویل چې امریکا دي دوي ته د اسامه په اړه ثبوتونه وړاندي کړي که چیري هغه مجرم و دوي به یې پخپله اسلامی محکمه کې محاکمه کړي، خو میلام ور زیاته کړه چې د طالبانو محکمې د نړیوال عدالت د محکمو په څیر د امریکا غوښتنې نشي پوره کولي، دوي په څو څو واره پر دغه موضوع راوګرځیدل که څه هم د ملاجلیل انګریزي ښه وه او یوائي په ځینو برخو کې یې د ژباړن مرستې ته اړتیا پیدا کیده خو بیا هم اکبر ټولې خبرې ترجمه کولې، په دا ډول رسمي مجلسونو کې زما ناسته غیر عادي وه خو سفیر میلام ویل چې ملا جلیل تر دیپلوماتیکو اړیکو اخوا هم څه لیوالتیا لري او دا زما لپاره کیدایشي ښه موقع وي چې ګټه ځیني واخلم.

ملا جلیل د اکثره طالب مشرانو بر خلاف له مدرسو بهر پراخي زده کړي کړې وې او ما هڅه کوله چې دده د حقیقي غوښتنو په اړه په څه وپوهیږم، ما دده په سترګو کې د بې باکه چالاکۍ نښې لیدې، که څه هم هغه د اکبر په موجودیت کې د طالبانو د حکومت رسمي او تایید شوې غوښتنې بیانولې خو زه پوه شوم چې که له یو طالب سره معامله کیده نو هغه هم دا دی، د مجلس په منځ کې مو یوه وقفه واخیسته، ما اکبر او جلیل دواړه بهرنی دهلیز ته راوستل پر سګریټو عاشق اکبرډباندي ووت او چې څنګه په اکبرپسي دروازه وتړل شوه جلیل ماته مخ واړوه هغه خبر و چې زه د سي ای اې مامور یم، راته ویې ویل : موږ باید سره په تماس کې و اوسو، د دروازې خواته یې اشاره وکړه او زیاته یې کړه : خو هغه باید خبر نشي، زه له ملا جلیل سره پر دې موافق وم چې اکبر د اعتبار وړ نه دی، مګر څنګه به سره وینو؟ جلیل وویل چې هغه د ملا سلام ضعیف سره اوسیږي او د اکبر له مرستې پرته هغه نشي کولی له استوګنځيیوازي راووزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه په دې هم پوهیدم چې هغه داسې خوندي د ارتباط وسیله نلري چې له کندهاره زما سره اړیکه ونیسي په افغانستان کې موبایل ټلیفون سیستم نه و، څو د ګوتو په شمیر ټلیفوني لینونه و چې هغه هم د پیښور او کویټې له لارې له نړۍ سره وصلیدل او د لوړو پوړو طالبانو د رسمي اړیکو لپاره ورڅخه کار اخیستل کیده او البته چې پاکستان به دغه ټولې اړیکې څارلې.

ما ورته وویل : که ستا سره سټلایټ ټلیفون وي نو کولی شي چې له ماسره اړیکې ونیسي او بل څوک درباندې پوه نشي؟ هغه وویل هو ! مګر د ټلیفون ساتل سخت دي ځکه که څوک زما سره سټلایټ ووینې چې یواځې زه یې کاروم نو دا نورو ته شکونه پیدا کوي خو زه به یې نورو ته هم اجازه ورکړم چې له دې ټلیفونه کار واخلي مګر زه به ورباندې یواځې ستاسره خبرې کوم.

زما په فکر دا ښه نظر و خو اوس دا پوښتنه پاتې وه چې سټلایټ ټلیفون څنګه په افغانستان کې تر ده پورې ور ورسوو، اکبر د دغه کار لپاره مناسب کس و خو جلیل اندیښنه درلوده چې اکبر به هیڅکله دا ټلیفون تر ده ور ونه رسوي ځکه بیا د هغه منځګړتوب ته اړتیا نه پاتې کیده، او چې اکبر بیرته سالون ته را دننه کیده ما جلیل ته وویل : دا کار ماته پریږده زه په پوهیږم.

ماښام ناوخته چې دیپلوماتیکي خبرې پای ته ورسیدې او هغوی دواړه پر خپله مخ ولاړل زه په فکرونو کې ډوب شوم چې د ملاجلیل سره دغه غیر متوقع لیدنه به له ځان سره څه ولري؟ د هغه په خبرو کې زما لپاره ښکاره سخاوت نه ښکاریده خو دا هیله کیده چې د یو لوړ پوړي طالب په توګه هغه جذب شي او د هغه په واسطه د اسامه بن لادن په اړه د طالبانو پالیسي تر تاثیر لاندې راولو، یا هم کیدای شي ملا جلیل هڅه وکړي چې د حالاتو په اړه زما نظر واړوي یا هم کیدای شي دواړه نتیجې ولري، په هر

(c) ketabton.com: The Digital Library

حال دا یو لنډه او زړه راښکوونکې لوبه وه او ما غوښتل چې پیل یې کړم ما له پخوا څخه د اسامه او افغان عربانو په اړه د طالبانو د پالیسي د بدلون لپاره په غیر مستقیمه توګه سخت کار کړی و او د ملا جلیل په ذریعه ما کولی شوی په مستقیم ډول دغو هڅو ته دوام ورکړم، مخکې تر دې ژمی ووزی لوبه باید ګرمه شي.

شپږم څپرکی

هغه جنګ چې ونه شو

۲۳ مارچ ۲۰۰۱

جولایي ۲۰۰۱

په غوټو بار او د جیټ الوتکې له سفره ستړي زه، پاولا او ډوګ د ویرجینیا ایالت د روزلین سیمې ته له پاکستانه راورسیدو، مور په رخصتي راغلي و او همدا شیبه مې ټیلیفون ته زنګ راغی، ما فکر وکړ چې ټیلیفون به زما لپاره نه وي ځکه هیڅوک نه پوهیدل چې مور دلته یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټليفون له بله اړخه د يوې ښځې له اطمينانه ډک ږغ راغی او ويې ويل : ښاغلی ګرينير ! رييس، ښاغلی ټينټ غواړي سبا سهار اوه نيمې بجې تا په خپل دفتر کې وګوري.

له ځان سره مې وويل : اوووو ولا فعاله دي .

سهار چې زه د رييس دفترته ورسيدم نو هلته يو شمير نور کسان هم راټول و پدغو کې د ټينټ د دفتر رييس جان موزيمن، مرستيال رييس جان مک لاپلن، د تروريزم ضد څانګې CTC مشر کوپر بلک او سرپرست عمومي مشاور جان ريزو و، جورج د خپل ميز شاته ناست و او زما خواته يې کتل تر څو ما د کنفرانس په لوي ميز کې پيدا کړي کله چې هغه د مجلس د مشر په توګه پر خپل ځای کيناست نو لويه پلنډه کاغذان يې مخ ته کيښودل.

زه پوه شوم چې دا هغه ګڼ راپورونه دي چې ما مرکزي دفترته راليږلي دي ځيني يې د تير کال و، پدغو کې زما هغه نظريات او ارزونې ليکل شوې وې چې څنګه کولی شو چې جنګ تر طالبانو ور ورسو، د دغو راپورونو چې اوس د جورج ټينټ په لاس کې و مهم ټکي په نښه شوي او تفسير شوي و.

زما په پيغامونو کې هغه ممکنه لاري بيان شوې وې چې زموږ استخباراتو موږ ته ويلي و او په مارچ کې چې ما ولسمشر بوش ته توضيحات ورکړي و له هغه راهيسيڅلور مياشتي تيري شوې وې او په دغو څلورو مياشتو کې زموږ د کاميابۍ فرصتونه او امکانات څو چنده زيات شوي و د طالبانو تر واک لاندي مهمې سيمې دې ته اماده وې چې نا ارامه شي ځکه د طالبانو د سختو فرمانونو پر وړاندي د خلکو حوصله مخ پر خلاصيدو وه. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملاعمر له لوري د کوکنار پر کښت د بنديز لګولو د دوي سره مرسته ونه کړه بلکه زرګونه بزګران ددې فرمان پر خلاف و ځکه دوي يې د لوړي ګټې له حاصلاتو محرومول.

د اسامه بن لادن او افغان عربو د موجوديت په اړه د طالبانو خپل منځي اختلاف مخ پر زياتيدو و ځکه دوي اوس په حکومت کې دننه د بل حکومت په توګه را څرګنديدل، دوي هغه څه کول چې زړه يې ورته ويل او هلته تلل چې خوښه يې وه، د هيڅ شي د اجازي په اړه يې خپل کوربانه نه خبرول، د القاعدې عرب مشرانو پر طالبانو باور نه درلود هغوي يې وروسته پاته بلل او شرم يې نه ځيني کوی، کله چې به اسامه غوښتل په هيواد کې کوم لور ته ولاړ شي نو ساتونکو به يې طالبان له مخکې نه خبرول، د سفرونو پر مهال به يې افغانان ليري ساتل او د امنيت په خاطر به يې درواغ ورته ويل.

که څه هم له طالبانو او د مسلکي عرب جنګيالو چې په (۵۵۵ عرب غونډ) کې جنګيدل د القاعدې مالي مرستې د پام وړ وې خو هيڅکله د عربانو قرباني او د دوي پيسې بې حسابه نه وې، هغه عربان چې په لومړۍ کرښه کې جنګيدل ظالمان و او يواځې د اسامه بن لادن د مذهبي لارښوونې يې په پام کې نيولې، دا چې پيسې يې درلودې نو اقتصادي بدلونونه په خاص ډول د طالبانو په مرکز کندهار کې په دوي پوري تړلي بلل کيدل، اکثره مشران طالبان هسي په نوم په حکومت کې و په اصل کې واک ټول د بن لادن کسانو تر لاسه کړی و. حتی پخپله ملاعمر د دغه عرب سرمايه دار په اړه شکمن و ځکه هغه به له واليانو، قومندانانو او نورو لوړپوړو طالب چارواکو سره پخپل سر او خپله خوښه اړيکي جوړولې او هغوي ته به يې ډالۍ ورکولې په اخر کې ملاعمر په يو ليک کې له اسامه غوښتنه وکړه چې له طالبانو سره ټولې مالې مرستې بايد د ده د دفتر له لاري وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخپله ملاعمر له اسامه سره ستونزه نه درلوده هغه د سعودي له لوري د
نړیوال جهاد د مفکورې پلوی و د ملاعمر رسمي موقف « امرالمومنین» و
او دده لپاره دا لقب یوازې د عزت پخاطر نه و، اسامه که څه هم له ملا
عمر سره ښې اړیکي درلودې خو بیا یې هم خپل افغان خواخوږي په ښه
ډول نازول او ځان یې هغوي ته یو نړیوال شخصیت معرفی کړی و. د ملا
عمر نژدې همکارانو خپلې اندیښنې پټې ساتلې خو په افغاني ټولنه کې دا
ډول خبري تر ډیره پټي نه پاته کیږي ډیرو طالبانو غوښتل چې عربان له
افغانستانه ولاړ شي، زمونږ جاسوسانو ویل چې ملااخترمحمد عثماني چې
لنډ نوم یې ملا عثماني، په جنوبي زون کې د طالبانو نظامي قومندان او
له ملا عمر را وروسته د طالبانو په منځ کې دوهم ځواکمن کس و د اسامه
بن لادن له شتون سره مخالف و او پدې اړه یې خپل ږغ هم پورته کړی و.

زما نظر داو چې که د پیسو په مرسته دغه ازاد خیاله کسان راپورته کړو
او له دې سره د پښتنو په یو شمیر مهمو سیمو کې هغه ځایي مشران چې
زمونږ ورسره اړیکي وي هم په نا ارامیو لاس پوري کړي او مونږ وکولی
شو چې دغه وسله وال بغاوت ته د افغان عربانو پر وړاندي د کرکې سره
تړاو ورکړو نو د طالبانو د مشرتابه پام به مو په ښه ډول دې موضوع ته را
اړولی وي، کیدای شي هغوی به د میلمه پالنې لپاره دومره ستره بیه
ورنکړي، زه پدې باور نه وم چې زما قبایلي بغاوت کوونکي به طالبانو په
ماتولو او له منځه وړلو بریالی شي لویه هیله  مې دا وه چې په پدغه
جګړو او بغاوت سره به د ملاعمر په نژدې کسانو کې د عربانو د
موجودیت پر وړاندي مخالفتونه زیات شي او نور به یې ونه زغمي، دا
بدلون به بالاخره ملاعمر هم قانع کړي چې په کومه بهانه ځان له اسامه
بن لادن او نورو جنجالي میلمنو څخه خلاص او خپلې اړیکي ورسره پای ته
ورسوي.

طالبانو او په خاص ډول ملا جلیل مونږ ته دا څرګنده کړې وه چې د دوي
مهمې غوښتنې څه دي، دوي ددې زیات لیواله و چې د یو قانوني حکومت

(c) ketabton.com: The Digital Library

په توګه په رسمیت وپیژندل شي دوي غوښتل په ملګرو ملتونو کې د افغانستان خالي څوکۍ دوي وسپارل شي.

د طالبانو په رهبري کې یو شمیر لوړو پوړو چارواکو غوښتل چې نړیوال بندیزونه له افغانستانه لیري شي افغانستان ته سوله راشي او د سوداګرۍ او کار و بار د پرمختګ زمینه برابر شي.

زما په فکر که موږ په سم وخت له خپلو فشارونو او هڅونو کار واخلو نو کیدای شي حالات داسي شي چې د طالبانو رهبرۍشورا ملاعمر وهڅوي یا یې مجبور کړي چې له اسامه سره خپلې اړیکي ختمي کړي هغه او د القاعدي نور کسان مجبوره کړي چې له خپلو مرکزونو ووزي ځکه دغه مرکزونه یې د امریکا لپاره هدف و. خو دا ټول تر اوسه فقط نظریه وه.

د ۲۰۰۱ په پسرلې کې د ولسمشر سره د مارچ د میاشتې له مجلس وروسته ما خپله دغه نظریه سفیر میلام ته وړاندي کړم، موږ موافقه وکړه چې که زه د طالبانو پر خلاف په اقدام لاس پوري کوم نو دی به هم راسره وي، دې به زما د هغو لیکونو او راپورونو سره د تایید سر خوځوي چې زه یې د دغه کار لپاره سي ای اې ته استوم او دا به تاییدوي چې زما غوښتنې او کړنې ددې سبب کیږي چې طالبان ممکن د اسامه بن لادن سپارلو او یا شړلو ته مخ کړي.

خو د سفیر هڅو کومه څرګنده پایله نه درلوده په بهرنیو چارو وزارت کې هیچا دا موضوع جدي ونه نیوله او موږ یې ژر په علت هم پوه شو، د بهرنیو چارو وزارت یو کار کوونکي راته وویل: ګوره! په بهرنیو چارو وزارت کې خپلو تجربو ماته ښودلې په سیاسي لوبو کې ډیره دلچسپي هم د نا امیدي سبب ګرزي. د طالبانو په اړه هر څه حتی د نرمۍ ښودلو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم د سياسي ماتې په سترګه کتل کيدل، طالبانو له امريکا سره سختې ستونزي درلودي پر ښځو باندي د دوي ظالمانو بندويزونو هغه ځانګړي څه ول چې امريکايي ملګري يې تري اخيستل، ماويس لينو چې د يو مشهور تلويزيوني بحث د چلوونکي ميرمن و له داسي يو يوې مېرمني سره د سټيج پر سر را ښکاره شوې چې چادري يې اغوستي وه دوي غوښتل په دې ډول د ليدونکو پام په افغانستان کې د مذهبي واکمنو له لوري روانو بې عدالتيو ته را واړوي ، چادري په افغانستان کې د طالبانو له لوري پر ميرمنو لازمي شوې وه.

په امريکا کې له دغه ډول حرکتونو او لاملونو سره يې د همږغۍ پريښودل سخت و خو موږ اوس له طالبانو سره په يو داسي حالت کې پاته و چې نور مو د اسامه په اړه (هو) نه شو اوريدلی، په امريکايې تلويزيونو کې د چادري په اړه نمايشونو او خبرو په افغان کليو کې خاص اثر هم نه درلود.

ما دا ټولې خبري د سي ای اې رييس ته دهغه په دفتر کې وکړې وروسته هغه خپلې پوښتنې پيل کړې او زما له ځوابونو يې له ځان سره يادښتونه اخيستل، د مارچ مياشتي راهيسيپه واشنګټن کې هم ډير بدلون راغلی و هغه وخت د طالبانو پر وړاندي د کوم پټ کار تر سره کول په اجنډا کې نه و شامل، خو اوس دغه کار د کاري اجنډاو مهمه برخه جوړوله د نړۍ له بيلابيلو برخو د تخنيکي وسايلو او جاسوسانو راپورونو رييس جورج ټينټ او د سي ای اې اداره په قانع کړي و چې د القاعدې له لوري يو لوي بريد يقيني او ډير ژر ترسره کيدونکی دی، ټينټ له کندوليزا رايس او کوپر بلک سره په خپلو پر له پسې ناستو کې هغوي ته قناعت ورکړی و چې بايد امريکا په بريد کي لومړۍ شي خو تر پايه دا خبره نه وه فيصله شوې چې امريکا بايد څنګه بريد وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه جنګ چې ونه شو

۲۳ مارچ ۲۰۰۱

بې کېرکیو کنفرانس خونه په تیاره کې ډوبه وه یواځې یو سوتره د لرګي میز د کوټې په منځ کې واضح ښکاریده، زه چې څنګه د دیوال څنګ ته خپل ځای ته ورسیدم نو یو ناڅاپي رڼا مې تر سترګو شوه ما فیصله وکړه چې د لومړي ځل لپاره د خپل د فصاحت او بلاغت ټول هنر کاروم، هیڅ مې ونه ویل او ددې پر ځای په کراره د خپلو مخاطبینو په پیژندنه بوخت شوم، د میز په سر کې نوی ټاکل شوی ولسمشر جورج ډبلیو بوش ناست و، دواړو څنګو ته یې د سپینې ماڼۍ کارکوونکي ناست و ښي اړخ ته یې د ملي امنیت مشاوره کندولیزا رایس او د دفتر رییس انډریو کارډ، چپ لور ته د ملي امنیت د سلا کارې مرستیال سټیپن هیډلي او د مرستیال ولسمشر د دفتر رییس لیویس سکوټر و د ولسمشر څخه لیري په ښي اړخ جورج ټینټ ناست و او ورسره په څنګ کې د سي ای اې نور جګپوړي مامورین و چې ماته یې شا وه.

زما چوپتیا خپل لازم اغیز درلود، د مقابل لوري پر میز ناست کسان ټول خپلو د یادښت کتابچو ته متوجه شول، له څو ثانیې انتظار وروسته ما پیل وکړ او ولسمشر ته مې وکتل: ښاغلی ولسمشر په اسلام اباد کې ستاسي د ځانګې د مسوول په حیث ..... . ما د (ستاسي) لفظ باندي ډیر زور راوړ، او دغه لفظ دواړه جورج ټینټ او ولسمشر لږ حیران کړل، مخکي چې یې ځیره خندانه وه اوس ناڅاپه جدي شو، ولسمشر ما ته وکتل او جورج ټینټ هم د ډیر وخت لپاره سترګې راپکې ښخې کړي، زه نه پوهیدم چې زما د خبرو طریقې خوند ورکړ که نه، هغه پدې کې هیڅ شک نه درلود چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د اسلام اباد د څانګې مسوول یم خو ما یې پخپله خبره سره توجه د ځان خواته راواړوله.

دا د سي ای اې له ودانۍ د ولسمشر لومړۍ لیدنه وه او راتګ یې داسي مثال درلود لکه خپل کورته چې راغلی و ځکه د سي ای اې مرکزيودانۍ په دې وروستیو کې د اوسني ولسمشر د پلار، پخواني ولسمشر جورج بوش په نوم شوې وه ځکه مخکې هغه هم د سي ای اې رییس تیر شوی و، دا له پیله ښکاره وه چې اوسنی ولسمشر د خپل پلار له وخته د سي ای اې په اړه معلومات لري پام ورته کوي او په قدر یې پوهیږي، د کلنټن په وخت کې داسي نه و هغه به ډیر لږ د استخباراتو له مشر سره لیدل. د ولسمشر په ټینګار به جورج ټینټ هره ورځ هغه لنډ استخباراتي راپور ورکوی که څه هم ټینټ د ډیموکرات ګوند کس و خو داسي ښکاریده چې دواړه به تر ډیره یو ځای کار سره وکړی. ټینټ د ولسمشر د دفتر له رییس سره ګرمې او نژدې اړیکي درلودي، زه د سي ای اې یو له دریو مسوولینو څخه وم چې له بهره مو ولسمشر ته په لومړۍ لیدنه کې د ځینو پیښو په اړه معلومات ورکول.

زما نوبت چې راغلی نو ما ولسمشر ته اشاره وکړه تر څو هغه پدې کړم چې زه او زما تر لاس لاندي کسان چې څه کوو هغه د ولسمشر لپاره کوو، ما ورته وویل : زما د مسوولیت ساحه پاکستان او د طالبانو تر واک لاندي ۹۰ سلنه افغانستان دي، زه د ۱۹۹۹ له ډسمبر راهیسيډیر تمرکز پر افغانستان کوم.

زیاته مې کړه: پخوا د سي ای اې د پام ټکی په القاعده شبکه کې اسامه بن لادن و خو اوس ټوله القاعده ده ځکه دده پلویان چې له بیلابیلو سیمو راغلي او مور یې د افغان عربو په نوم یادوو اوس پوره پیاوړي شوي دوي مور او زمور ملګرو ته په پر له پسي ډول خطرونه جوړوي، که چیري

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسامه په طبعي پیښه کې مړ هم شي خو له دوي د طالبانو ملاتړ د دوي د قوت او موجودیت سبب ګرځي.

ځکه نو اوس موږ د خپلو قبایلي سرچینو له لاري د اسامه بن لادن د نیول کیدو په هیله د هغه د ورځني تعقیب تر څنګ د طالبانو ځارلو ته پام زیات کړی او په تیرو اتلسو میاشتو کې د پام وړ لاسته راوړنې لرو، ما په تفصل سره د طالبانو د وزارتونو، رهبري او القاعدي د روزنیزو کمپونو په اړه معلومات ورکړل چې اوس موږ پکې خپل کسان درلودل. ما همدارنګه د طالبانو د سیاست او پالیسو په اړه خپل توضیحات ورکړل، زما له خبرو په ځانګړې دول کندولیزارایس خوښه ښکاریده ځکه پداسي حال کې چې یادښتونه یې اخیستل سر یې هم د تایید په توګه خوځوی.

ما د خپلو قومي استخباراتي شبکو په اړه هم توضیحات ورکړل چې ټول هیواد یې تر پوښښ لاندي نیولی وه، دغه قومي جاسوسان اکثره یې هغه قومي مشران او سیمه ییز مخور و چې د طالبانو له واک ته رسیدو سره یې خپل ټولنیز قدرت او اعتبار له لاسه ورکړی و، موږ دوي د (مشر جاسوس) په نوم یادول، او کولی یي شول چې په خوندي توګه استخباراتي معلومات تر موږ پوري را ورسوي، د اړیکو لپاره یې په عادي ډول خوندي سټلایټ ټلیفونونه کارول، دوي په سیمه کې د معلوماتو پراخې سرچینې پیدا کړې وې اکثره دغه سرچینې په کورني یا قومي لحاظ په دوي پوري تړلې وې، د دغو جاسوسانو د معلوماتو په ترڅ کې موږ په سیاسي، نظامي او ټولنیزو پرمختیاو او بدلونونو خبریدو، د هغو موضوعاتو چې موږ به بل ځای کار ځیني اخیست د رد یا تایید لپاره به مو افغانستان کې له خپلو نورو همکارانو هم کار اخیست، ځینی وخت به لیکلی یا ثبت شوی معلومات هم رالیږل کیدل، مشرجاسوس به هغه منظم کړی و او بیا به یې د اوښ پر شا تړل تر څو په خوندي توګه زماتر دفتره را ورسیږي، ولسمشر ته زما د توضیحاتو د ورکولو لس دقیقي وخت ختم شو او پدغه وخت کې ما هڅه وکړه چې ټول هغه څه تر ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوري ورسوم او هغه يې له ځان سره ياداشت کړی چې د راتلونکو اقداماتو پر مهال يې ورته اړتيا وي.

تر ټولو مهم ټکی چې ما په خپلو خبرو کې په تفصيلی توګه بايد ياد کړی وای خو ياد مي نکړ هغه له ډيره وخته زما کاری تمرکز و چې پر اسامه بن لادن مى کړی و ما د تير حکومت پر مهال هم يو نوښت کړی و او په له پر پسې ډول مي له حکومت څخه د اسامه پر وړاندي د عملياتو غوښتنه کوله، زما د غوښتنو په مقابل کې د ولسمشر بيل کلنټن په امضا زموږ ځانګې ته ددې صلاحيت ورکړل شوي و چې اسامه وڅارو مګر پدې ليک کې ددې اجازه نه وه چې هغه ووژنو، سي ای اې ته زما له راتګ راهيسې زموږ اداره د حکومت له لوري څارل کيده تر څو ۱۲۳۳۳ فرمان له نظره ونه غورځوي، دغه فرمان چې د ولسمشر ريګن له لوري امضا شوی و پکې سي ای اې له هر ډول وژنې څخه منعه شوې وه، زموږ افغان همکارانو کولی شول د اسامه بن لادن د نيولو هڅه وکړي او که چيري اسامه او د هغه وسله وال ملګري مقاومت وکړی له ځانه دفاع هم وکړي، که چيري د مقاومت په ترڅ کې هغه ووژل شي کومه خبره نه ده خو له دې ها خوا موږ او زموږ کارکوونکو ته ددې اجازه نه وه چې په بل ډول د اسامه بن لادن د وژنې اقدام وکړو.

ولسمشر ته زما تر معلوماتو وړکولو څو مياشتي وړاندي هغه ډله چې موږ د اسامه د څارنې لپاره ګمارلې وه موږ ته د يو وړانديز سره راغلل، دوي اوس د اسامه د تګ راتګ له لاری سره بلد و که څه هم دوي په يقيني ډول نشو ويلی چې پر کوم وخت هغه له کوم ځايه چيرته ځي خو دوي ته هغه ټول پلګوښي معلوم و چې د اسامه د تګ راتګ د لاري پر سر و او اسامه به خامخا پرې تيريده، د دوي وړانديز دا و چې يو يا څو له دغو پلونو له زياته اندازه چاوديدونکو توکو ډک کړي او هغه مهال چاودنه ورکړي چې د اسامه د موټر له هغه ځايه تيريږي، خو موږ ورته وويل چې پام داسي ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي او که يې بيا د داسي کار په اړه فکر هم کړي و نو زموږ له لوري
ټولې مرستې به ورباندي بندي شي.

موږ يواځي هغه وخت خپلو قبايلي ملګرو ته د اسامه د وژلو اجازه ورکړې
وه چې کله هغه د نيول کيدو پر مهال مقاومت وکړي چې حتمي به يې
کوی مګر ښکاره وه چې هغوي داسي نشو کولی، کيدای شي يو
لويديځوال کار پوه ته دا عجبه وبريښي چې نو ولي دوي داسي نه شو
کولی؟ تاسي فکر وکړي چې افغان مشرانو ته به دا خبره څومره معقوله
وه، په چاودنه کې د اسامه د وژل کيدو وروسته زموږ افغان ملګرو کولی
شو چې په اسانه او د ډير واړه خطر په منلو ځان له سيمي وباسي او په
پيښه کې د لاس لرلو ثبوت يې پاته نشي، خو په مخامخ جګړه کې له يوه
لوري د د وي د تلفاتو امکان و او له بل لوري په پيښه کې د دوي د قوم د
لاس لرلو موضوع په هيڅ ډول پټه نه پاتي کيده او پدې ډول به د افغان
طالبانو او عرب جنګياليو د انتقام شپيلۍ د دوي د کورنۍ د غړو او ملګرو
سر ته سيخه وه، زموږ سيمه ييزو همکارانو زموږ د مرستو د له لاسه
ورکولو له ويری دا خبره موږ ته مخامخ نه کوله خو هغه کسان چې د
اسامه ځارنه يې کوله هيڅ کله د امريکا د قانون د مراعت په خاطر دې ته
حاضر نه و چې د اسامه د نيونې لپاره په هغه پسې مخامخ لاړ شي او که
هغه بيا دفاع وکړي نو دوي ورسره جګړه وکړي، موږ اوس بله لاره نه
درلوده يواځي پر معلومه لاره مو خپلې هڅې کولې زما هيله وه چې
نتيجه به ورکړي خو پر دې هيله مې باور ورځ تر بلې کميده.

تقريباً هره ورځ به زموږ افغان جاسوسانو موږ ته معلومات راکول چې نن
اسامه او د هغه بدرګه کوونکي ملګري په کوم ښار دي او په کوم ښار کې
شپه تيروي خو تجربو ښودلې وه چې دغه همکاران داسي معلومات نشي
وړاندي کولی چې پکې زيات دقيقوي، يواځي د هغه ښار معلوماتو بسنه
نه کوله چې اسامه به پکې شپه تيروله بلکه د هغه کور او حتی هغه کوټې
په اړه معلومات لازم و چې اسامه پکې ويده کيده، که داسيمعلومات تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسه شوي وای نو بیا سي ای اې د امریکا حکومت ته خپل مخکیني وړاندیز چې د کروز توغندیو برید و وریاداوه.

د اسامه بن لادن پر وړاندي دقیق‌برید چې موږ لا هم وربانديي کار کوي بریالی نه ښکاریده ځکه نو پکار نه وه چې د ولسمشر وخت پرې ونیسم، د درواغو وعدې ورکړم او یا بې ځایه بهانې وړاندي کړم او دا موضوع ځکه هم په ډیر بحث نه ارزیده چې دا ستونزه له مخکینی‌حکومت نه نوی ولسمشر ته پاته وه، او دا هم باید زیاته کړو چې یواځې د اسامه بن لادن په جنت ته تلللو سره له القاعدې سره زموږ اوږد مهاله ستونزه نه هواریده ځکه نو ما دخبرو په ترځ کې پر نورو موضوعاتو ټینګار او بحث وکړ.

ولسمشر او د ملي امنیت ټیم ته موږ د خپلو استخباراتي فعالیتونو د ډیربښت په اړه معلومات ورکړل.او دا مو هم ورته وویل چې طالبان مو تر نظر لاندي ساتلي خو یو بل مهم ټکی هم و چې د اوس لپاره ما نه غوښتل له ولسمشر سره یې شریک کړم، ما او زما ځانګې پر دې کار کوی چې د افغانستان په جنوب کې د طالبانو پر ضد جګړه پیل کړو، دا معلومه وه چې د ولسمشر بې اجازي موږ جګړه نشوه پیل کولی خو له تیر یو نیم کال راهیسي‌موږ د دغه پروګرام ځیني برخې بشپړې کړې وې او ځیني مهمې برخې لا پاته وې چې په راتلونکو شپږو میاشتو کې به مو وربانديي کار کوي.

موږ د باوري منځګړو په وسیله هغه پښتانه قومندانان چې د شوروي ضد جګړه کې فعال رول درلود رابلل له دغو قومندانانو تقریباً یوه یې هم د طالبانو په راتلو سره خپل پخوانی حیثیت نه درلود، سره له دې چې ځیني یې د طالبانو تر بیرغ لاندي له شمالي ټلوالي سره په کورنۍ جګړه بوخت و خو بیا هم دوي هیڅکله د خپلو مذهبي مشرانو لپاره د باور وړ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

و، اکثره یې د طالبانو له لوري بې وسلي شوي او له پامه غورځول شوي
و ځینو په خپلو کلیو کې سخت ژوند تیروی او ځینی نور بیا له هیواده وتلو
ته مجبوره شوي و او له پولې پوري غاړه پاکستان کې اوسیدل.

ځینو دغو قومندانانو له موږ سره لیدنه رد کړه او ځینو چې تازه یې
طالبانو سره ملګرتیا پیل کړې وه پدې شرط خبرو ته اماده شول چې
منځګړي باید د باور وړ وي ځکه کیداي شي طالبان د دوي په بدنیتي پوه
شي چې بیا به له سختې سزا سره مخ شي، په پاکستان کې میشت
جګړه مار قومندان جلال الدین حقانې چې د طالبانو په حکومت کې د
قبایلو د وزیر و له راځخه  د اتیا زره ډالرو معادل پیسې یواځې ددې لپاره
وغوښتې زموږ لپاره به د لیدنو زمینه برابروي ( خو دده دا غوښتنه ونه
منل شوه) ګڼو نورو بیا غوښتل چې له لسو کلونو وروسته بیرته له سي
ای اې سره اړیکي جوړي کړي که څه هم ځینې یې پدې خاطر غوسه و
چې ولي امریکا هیر کړي و مګر بیا هم زموږ د امید سترګې همدغو کسانو
ته وې.

ځینی دغه قومندان په لنډ مهال کې د ډیرو ښو استخباراتي سرچینو په
توګه ثابت شول له دوي سره زموږ د اړیکو عمده هدف داوه هر څونه ژر
چې  کیدایشي د طالبانو پر ضد وسله وال بغاوت وشي ما ځکه ولسمشر
ته دا خبرې نه شوې کولي چې بیا هغه ګومان کوی چې زه له خپلې کاري
لایحې پښې اړوم او د امریکا د پالیسې د بدلون هڅه کوم او دا په هیڅ
صورت د سي ای اې مسوولیت او صلاحیت نه دی چې پالیسۍ ته تغیر
ورکړي، بیا به هم زموږ پلان د سي ای اې له لوري له ولسمشر سره
شریکیده خو نه پدغه ورځ او نه هم زما له لوري، زه پوهیدم چې که موږ د
دغه پروګرام لپاره لازم ترتیبات ونیسو او پکې د بریاوو ژمنې وکړو نو
ولسمشر به یې بالاخره راسره ومني، د اوس لپاره زما هڅه داوه چې
یواځې د سي ای اې په دننه کې د خپلې دغې نظریې لپاره ملاتړي پیداکړم
او هیله مې وه چې یوه ورځ یې د پیل لپاره ولسمشر هم امر راکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**